

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 4

# بسم الله الرحمن الرحيم

۞ كُلُّ ٱلطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۚ قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٩٣﴾

۞ كُلُّ تول ٱلطَّعَامِ خوراكي شيان (چې د محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت کې حلال دي) كَانَ وو حِلًّا حلال لِّبَنِيٓ اولاد ته إِسۡرَٰٓءِيلَ د یعقوب علیه السلام إِلَّا مګر مَا هغه څه حَرَّمَ چې حرام کړي وو(بند کړي وو) إِسۡرَٰٓءِيلُ یعقوب علیه السلام عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ په خپل ځان باندې مِن قَبۡلِ مخکې د أَن تُنَزَّلَ نازلیدلو ٱلتَّوۡرَىٰةُ د تورات څخه (یهودیانو په نبی علیه السلام اعتراض وکړو چې ته څنګه وایې چې زه د ابراهیم علیه السلام او یعقوب علیه السلام په دین یم حال دا چې د ابراهیم او یعقوب علیهما السلام په دین کې خو د اوښانو غوښې او شوده حرام وو،او ته یې حلال ګڼې،نو معلومه شوه چې ته د هغوی په دین نه یې.نو دا د یهودیانو د اعتراض جواب دی چې:د اوښ غوښه او شوده د تورات د نزول څخه د مخه د ابرهیم او یعقوب علیه السلام په دین کې حرام نه وو،مګر د اوښ غوښه او شوده خو یعقوب علیه سلام د ورپیښې شوې مریضۍ په سبب په خپله پخپل ځان بند کړې وو(حرام کړې وو)،او اولادې یې د هغه علیه السلام پیروي وکړه.)

قُلۡ (ای محمد صلی الله علیه وسلم ورته) ووایه فَأۡتُواْ نو تاسو راوړئ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ تورات فَٱتۡلُوهَآ او هغه ولولئ(په تورات کې دا نشته چې د تورات د نزول نه پخوا د اوښ غوښه او شوده حرام وو) إِن كه چیرته كُنتُمۡ تاسو یاستئ صَٰدِقِينَ رښتیني.(نو یهودو تورات رانوړو ځکه پوهیدل چې نبي علیه السلام د وحې پواسطه خبر شوئ دی چې په تورات

کې نشته دی چې د تورات د نزول څخه مخکې د اوښانو غوښې او شوده حرام وو.باید ذکر شي چې د تورات د نزول نه وروسته په تورات کې د سزا په ډول د یهودیانو د جرمونو په سبب په دوی حرامې شوي) ﴿٩٣﴾

فَمَنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩٤﴾

فَمَنِ نو څوک ٱفۡتَرَىٰ چې هغه تړي عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې ٱلۡكَذِبَ دروغ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وروسته د دې څخه فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک هُمُ هم دوی ٱلظَّٰلِمُونَ ظالمان دي. ﴿٩٤﴾

قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٥﴾

قُلۡ ووایه(ای محمد صلی الله علیه وسلم) صَدَقَ ربښتیا ویلي دي ٱللَّهُۗ الله تعالی فَٱتَّبِعُواْ نو تاسو پیروي وکړئ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ د ابراهیم علیه السلام د ملت(طریقې) حَنِيفٗاۖ (چې) حنیف وو(چې حق پرست وو) وَمَا كَانَ او هغه علیه السلام نه وو مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو څخه. ﴿٩٥﴾

إِنَّ أَوَّلَ
بَيۡتٖ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكٗا وَهُدٗى لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٦﴾ فِيهِ ءَايَٰتُۢ بَيِّنَٰتٞ مَّقَامُ إِبۡرَٰهِيمَۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنٗاۗ وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩٧﴾

إِنَّ بیشکه أَوَّلَ اول بَيۡتٖ کور(د الله تعالی،بیت الله) وُضِعَ چې جوړ شوئ دی لِلنَّاسِ د انسانانو دپاره لَلَّذِي یقیناً هغه دی بِبَكَّةَ چې په مکه کې دی مُبَارَكٗا مبارک دی وَهُدٗى او هدایت دی لِّلۡعَٰلَمِينَ د عالمونو دپاره. ﴿٩٦﴾ فِيهِ په دې کې(په بیت الله شریف کې) ءَايَٰتُۢ نښې دي بَيِّنَٰتٞ ښکاره مَّقَامُ (چې یوه د دې نښو څخه) ځای د ودریدلو إِبۡرَٰهِيمَۖ د ابراهیم علیه السلام دی (کله ئې چې بیت الله شریف جوړولو) وَمَن دَخَلَهُۥ او هر څوک چې دې(کور ) ته داخلیږي كَانَ ءَامِنٗاۗ په آمن

کې کيږي وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالی دپاره عَلَى ٱلنَّاسِ په خلکو باندې
حِجُّ حج کول ٱلْبَيْتِ د بیت الله شریف(فرض) دی مَنِ (په هغه چا
باندې) څوک ٱسْتَطَاعَ چې طاقت لري إِلَيْهِ هغه ته(بیت الله شریف ته)
سَبِيلًاۚ د لارې(د تللو) وَمَن او هر څوک كَفَرَ چې کفر کوي(چې وسه
ئې کيږي او د بیت الله حج نه کوي) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بیشکه الله تعالی غَنِيٌّ
بې پرواه دی عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ د عالمونو څخه ﴿۹۷﴾

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿۹۸﴾

قُلْ ووایه(ای محمد صلی الله علیه وسلم) يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ای اهل د کتابو
لِمَ تَكْفُرُونَ تاسو ولې کفر کوئ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې
وَٱللَّهُ او الله تعالی شَهِيدٌ شاهد دی عَلَىٰ مَا په هغه څه باندې تَعْمَلُونَ
چې تاسو يې کوئ ﴿۹۸﴾

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ تَبْغُونَهَا عِوَجًا وَأَنتُمْ
شُهَدَآءُۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۹۹﴾

قُلْ ووایه يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ای د کتاب خاوندانو لِمَ تَصُدُّونَ تاسو ولې منع
کوئ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی د لارې نه مَنْ ءَامَنَ هغه څوک چې
ایمان ئې راوړئ دی تَبْغُونَهَا تاسو غواړئ چې دې(الهي لار کې
ولټوئ) عِوَجًا کوږوالئ(او عیبونه تر څو چې هغوی ته داسلام د دین په
باره کې شکونه پیدا کړئ چې د اسلام څخه واوړي) وَأَنتُمْ شُهَدَآءُۗ حال دا
چې تاسو شاهدان یاستئ(د اسلام په حقانیت باندې ځکه چې په تورات او
انجیل کې د محمد صلی الله علیه وسلم د راتلو زیرې او صفتونه موجود
دي او ای کتابیانو تاسو ته معلوم دي وَمَا ٱللَّهُ او الله تعالی نه دی بِغَٰفِلٍ
بې خبره عَمَّا د هغه څه نه تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ. ﴿۹۹﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ای مؤمنانو إِن تُطِيعُواْ که چيرته تاسو تابعداري
وکړئ(که چيرته تاسو خبره ومنئ ) فَرِيقٗا د يوى ډلي مِّنَ ٱلَّذِينَ د
هغو خلکو أُوتُواْ چې هغوى ته ورکول شوئ دى ٱلۡكِتَٰبَ کتاب
يَرُدُّوكُم هغوى به تاسو بيرته وګرځوي بَعۡدَ وروسته إِيمَٰنِكُمۡ ستاسو د
ايمان(راوړلو)نه كَٰفِرِينَ کافران. ﴿۱۰۰﴾

وَكَيۡفَ تَكۡفُرُونَ وَأَنتُمۡ تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ وَفِيكُمۡ رَسُولُهُۥۗ وَمَن يَعۡتَصِم بِٱللَّهِ
فَقَدۡ هُدِيَ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿۱۰۱﴾

وَكَيۡفَ او څنګه تَكۡفُرُونَ تاسو(بيرته)کافران کيږئ وَأَنتُمۡ په داسي
حال کي چي تاسو! تُتۡلَىٰ لوستل کيږي عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې ءَايَٰتُ
ٱللَّهِ د الله تعالى آياتونه وَفِيكُمۡ او دى په تاسو کي رَسُولُهُۥۗ د هغه جل
جلاله پيغمبر وَمَن او هر څوک يَعۡتَصِم چي هغه منګولي ولګوي
بِٱللَّهِ د الله تعالى(په دين) باندې فَقَدۡ نو بيشکه هُدِيَ چې هغه ته هدايت
وشو إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ سمي لارې ته. ﴿۱۰۱﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿۱۰۲﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای مؤمنانو ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ د الله تعالى څخه ووېرېږئ
حَقَّ (څنګه چې د الله تعالى) حق دى تُقَاتِهِۦ د هغه جل جلاله څخه د
ويريدلو وَلَا تَمُوتُنَّ او تاسو مه مړه کيږئ إِلَّا مګر وَ په داسي حال
کي أَنتُم چې تاسو مُّسۡلِمُونَ مسلمانان ياستئ. ﴿۱۰۲﴾

وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ﴿١٠٣﴾

وَٱعۡتَصِمُواْ او تاسو منګولي ولګوئ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په رسۍ باندې(قرآنكريم باندې) جَمِيعٗا ټول وَلَا تَفَرَّقُواْ او تاسو ډلي-ډلي مه كيږئ(او سره مه بيليږئ) وَٱذۡكُرُواْ او ياد كړئ تاسو نِعۡمَتَ ٱللَّهِ نعمت د الله تعالى عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې إِذۡ كله چې كُنتُمۡ تاسو وئ أَعۡدَآءٗ دښمنان فَأَلَّفَ نو هغه جل جلاله مينه واچوله بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ په منځ د زړونو د ستاسو كې فَأَصۡبَحۡتُم نو شوئ تاسو بِنِعۡمَتِهِۦٓ د هغه جل جلاله په نعمت(مهربانۍ) سره إِخۡوَٰنٗا (اسلامي) ورونه وَكُنتُمۡ او تاسو وئ عَلَىٰ شَفَا په غاړه باندې حُفۡرَةٖ د كندې مِّنَ ٱلنَّارِ د اور(د دوزخ) فَأَنقَذَكُم نو هغه جل جلاله خلاص كړئ تاسو مِّنۡهَاۗ د هغه(اور) نه كَذَٰلِكَ همدارنګه يُبَيِّنُ ٱللَّهُ الله تعالى بيانوي لَكُمۡ تاسو ته ءَايَٰتِهِۦ آياتونه خپل(احكام خپل) لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَهۡتَدُونَ هدايت موندونه كړئ. ﴿١٠٣﴾

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

وَلۡتَكُن او خامخا دې وي مِّنكُمۡ ستاسو څخه أُمَّةٞ يوه ډله يَدۡعُونَ چې هغوى دعوت وركوي(خلكو ته) إِلَى ٱلۡخَيۡرِ خير ته(اسلام ته) وَيَأۡمُرُونَ او هغوى امر كوي(خلكو ته) بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نيكيو باندې وَيَنۡهَوۡنَ او منع كوي(خلک) عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ د بديو څخه وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه (خلک) هُمُ همدوى ٱلۡمُفۡلِحُونَ كامياب دي ﴿١٠٤﴾

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿١٠٥﴾

وَلَا تَكُونُواْ او تاسو مه کیږئ كَٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) پشان تَفَرَّقُواْ چې
هغوی ډله-ډله شول وَٱخۡتَلَفُواْ او اختلاف يې وکړو مِنۢ بَعۡدِ مَا
وروسته د هغې څخه جَآءَهُمُ چې راغلل دوی ته ٱلۡبَيِّنَٰتُ واضحه
دلايل(سره د پوهې د نفسي خواهيشاتو د پوره کولو دپاره يهوديانو «۷۱»
او نصاراوو «۷۲» ډلي جوړې کړي وي) وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه(خلک چې
ډلي يې جوړي کړي وي) لَهُمۡ دوی ته عَذَابٌ عَظِيمٞ لوی عذاب دی
﴿١٠٥﴾

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسۡوَدَّتۡ وُجُوهُهُمۡ أَكَفَرۡتُم بَعۡدَ
إِيمَٰنِكُمۡ فَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱبۡيَضَّتۡ وُجُوهُهُمۡ
فَفِي رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٠٧﴾

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ (د قيامت) په ورځ به سپين شي وُجُوهٞ ځيني مخونه وَتَسۡوَدُّ
او تور به شي وُجُوهٞۚ ځيني مخونه فَأَمَّا ٱلَّذِينَ نو کوم چې هغه خلک
دي ٱسۡوَدَّتۡ چې تور شي وُجُوهُهُمۡ مخونه د هغوی ( ورته به وويل
شي) أَكَفَرۡتُم آيا تاسو کافر شوي وئ بَعۡدَ وروسته إِيمَٰنِكُمۡ د
ايمان(راوړلو) ستاسو فَذُوقُواْ نو وڅکئ ٱلۡعَذَابَ عذاب بِمَا په سبب
د دې كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ چې تاسو کفر کولو ﴿١٠٦﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ او کوم چې
هغه خلک دي ٱبۡيَضَّتۡ چې سپين شي وُجُوهُهُمۡ مخونه د هغوی فَفِي
رَحۡمَةِ ٱللَّهِۖ نو په رحمت د الله تعالی کې به وي هُمۡ فِيهَا دوی به په هغې
کې خَٰلِدُونَ هميشه وي.(يعنی د الله تعالی په جنت کې به هميشه وي)
﴿١٠٧﴾

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۗ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلۡمٗا لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٠٨﴾

تِلۡكَ دا ءَايَٰتُ ٱللَّهِ د الله تعالی آياتونه دي نَتۡلُوهَا (چې) مونږ ئې لولو
عَلَيۡكَ په تا باندې بِٱلۡحَقِّۗ په حقه سره وَمَا ٱللَّهُ او نه الله تعالی يُرِيدُ
اراده لري ظُلۡمٗا د ظلم کولو لِّلۡعَٰلَمِينَ مخلوقاتو ته. ﴿١٠٨﴾

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

وَلِلَّهِ او يوازې د الله تعالى دي مَا هغه څه فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه څه فِي ٱلۡأَرۡضِۚ چې په ځمکه کې دي وَإِلَى ٱللَّهِ او يوازې الله تعالى ته تُرۡجَعُ ورګرزول کيږي ٱلۡأُمُورُ ټول کارونه. ﴿١٠٩﴾

كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ وَلَوۡ ءَامَنَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۚ مِّنۡهُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿١١٠﴾

كُنتُمۡ تاسو ياستئ خَيۡرَ أُمَّةٍ يو بهتر اُمت أُخۡرِجَتۡ (چې) ويستل شوي يئ لِلنَّاسِ د انسانانو دپاره تَأۡمُرُونَ (چې) تاسو امر کوئ بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نيکئ باندې وَتَنۡهَوۡنَ او تاسو منع کوئ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ د بدئ څخه وَتُؤۡمِنُونَ او تاسو ايمان لرئ بِٱللَّهِۗ په الله تعالى باندې وَلَوۡ او که چيرته ءَامَنَ ايمان راوړئ وو أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ کتابيانو(يهودو او نصرانيانو) لَكَانَ خَيۡرٗا يقيناً بهتر وو لَّهُمۚ هغوی ته(د ايمان راوړل) مِّنۡهُمُ د هغوی(کتابيانو) څخه ځيني ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان دي وَأَكۡثَرُهُمُ او اکثره د هغوی ٱلۡفَٰسِقُونَ نافرمانه دي. ﴿١١٠﴾

لَن يَضُرُّوكُمۡ إِلَّآ أَذٗىۖ وَإِن يُقَٰتِلُوكُمۡ يُوَلُّوكُمُ ٱلۡأَدۡبَارَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١١١﴾

لَن يَضُرُّوكُمۡ هيڅکله به هغوی(کتابيان) تاسو ته ضرر ونه رسوي إِلَّآ أَذٗىۖ پرته (د خولې د پروپاګند) د ضرر نه وَإِن او که چيرته يُقَٰتِلُوكُمۡ هغوی ستاسو سره جنګ کوي يُوَلُّوكُمُ تاسو ته به شاګانې درواړوي(وبه تښتي) ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ بيا به د هغوی سره هيڅ کومک نه کيږي ﴿١١١﴾

ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيۡنَ مَا ثُقِفُوٓاْ إِلَّا بِحَبۡلٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبۡلٖ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو
بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَسۡكَنَةُۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانُواْ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ
وَيَقۡتُلُونَ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ﴿١١٢﴾

ضُرِبَتۡ مقرر شوئ دی عَلَيۡهِمُ په هغوی باندې(په یهودیانو باندې) ٱلذِّلَّةُ ذلت أَيۡنَ مَا هر ځای کې ثُقِفُوٓاْ چې هغوی وموندل شي(ځکه چې دوی هیچیرې د یو آزاد،مستقل،آرام او د آمن نه ډک ملک او حکومت خاوندان نه دي،او په ټوله دنیا کې بې پته او بې عزته پراته دي) إِلَّا مګر بِحَبۡلٖ مِّنَ ٱللَّهِ (چې منګولې ولږوي) د الله تعالی په رسی«قرآنکریم» باندې(نو د ذلت نه به خلاص شي) وَحَبۡلٖ مِّنَ ٱلنَّاسِ (او منګولې ولږوي) په رسیٔ د خلکو(یعنی د مؤمنانو یا کافرانو څخه امان واخلي یا د نورو کافرانو او غټو ملکونو په جامعه کې ورننوزي او د هغوی پورې ځان وتړي،نو د هغوی پواسطه به په دنیا کې په مؤقتي او ظاهري ډول د ذلت څخه یو څه خلاص وي) وَبَآءُو او دوی اخته شوي دي بِغَضَبٖ په غضب باندې مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَضُرِبَتۡ او مقرره شوي ده عَلَيۡهِمُ په دوی باندې ٱلۡمَسۡكَنَةُۚ محتاجي(همیشه د سر او مال، امن ،پت او عزت د ساتلو دپاره نورو ته محتاج دي،یعنی تل پناه ګزین دي په کوم ځای او کوم ملک کې چې اوسیږي،د هغې ملک خلکو او حکمتونو ته د خپل سر اومال،ناموس او عزت په ساتنه کې محتاج دي.) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ دا (ذلت،غضب او محتاجي) په دې سبب دي چې دوی كَانُواْ يَكۡفُرُونَ کفر کولو بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې وَيَقۡتُلُونَ او مړه کول به یې ٱلۡأَنۢبِيَآءَ پیغمبران علیهم السلام بِغَيۡرِ حَقّٖۚ په ناحقه باندې(لکه زکریا ،یحییَ او شعیب علیهم السلام) ذَٰلِكَ دا(کفر او د پیغمبرانو علیهم السلام وژل) بِمَا په دې سبب وو عَصَواْ چې دوی نافرماني کوله وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ او د حدودو څخه تیریدل. ﴿١١٢﴾

لَيۡسُواْ سَوَآءٗۗ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ يَتۡلُونَ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ وَهُمۡ يَسۡجُدُونَ ﴿١١٣﴾

لَيۡسُواْ هغوی(کتابيان) نه دي سَوَآءٗۗ يو قسم (يو شان،يو برابر).

مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ د اهل کتابو أُمَّةٞ قَآئِمَةٞ يوه ډله(په دين) ولاړه ده يَتۡلُونَ (چې) هغوی لولي ءَايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی آياتونه ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ د شپې په وختونو کې وَهُمۡ او دوی يَسۡجُدُونَ سجدې کوي ﴿١١٣﴾

يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١١٤﴾

يُؤۡمِنُونَ دوی ايمان لري بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ او په ورځ د آخرت باندې وَيَأۡمُرُونَ او دوی امر کوي(خلکو ته) بِٱلۡمَعۡرُوفِ په نيکۍ باندې وَيَنۡهَوۡنَ او منع کوي(خلک) عَنِ ٱلۡمُنكَرِ د بدۍ څخه وَيُسَٰرِعُونَ او چالاکي کوي فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۖ په نيکو کارونو کې وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ د نيکانو نه دي ﴿١١٤﴾

وَمَا يَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾

وَمَا او هغه څه يَفۡعَلُواْ چې دوی يې کوي مِنۡ خَيۡرٖ د نيک عمل نه فَلَن يُكۡفَرُوهُۗ نو دوی به هيڅکله محروم نشي د هغې(نيک عمل د ثواب نه) وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمُۢ پوه دی بِٱلۡمُتَّقِينَ په متقيانو باندې. ﴿١١٥﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١١٦﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران شوي دي لَن تُغۡنِيَ هيڅکله به دفع نکړي(لرې نکړي) عَنۡهُمۡ د هغوی نه أَمۡوَٰلُهُمۡ د هغوی مالونه وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم او نه د هغوی اولادونه مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی (د

عذاب نه) شَيۡـٔٗاۖ هيڅ شی وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ خاوندان د اور دي(دوزخيان دي) هُمۡ فِيهَا (چې) هغوی به وي په دي(اور د دوزخ کې) خَٰلِدُونَ هميشه ﴿١١٦﴾

مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَثَلِ رِيحٖ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتۡ حَرۡثَ قَوۡمٖ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَأَهۡلَكَتۡهُۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِنۡ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١١٧﴾

مَثَلُ مثال مَا د هغې(مال) يُنفِقُونَ چې هغوی يې مصرفوي فِي هَٰذِهِ په دې ٱلۡحَيَوٰةِ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنيا کې كَمَثَلِ پشان د مثال د رِيحٖ د يو(داسې) باد دی فِيهَا چې په هغې(باد) کې صِرٌّ اور وي أَصَابَتۡ چې ورسيږي دغه(باد يا را والوزي دا باد) حَرۡثَ قَوۡمٖ په فصل د (داسې) يو قوم ظَلَمُوٓاْ چې هغوی ظلم کړئ وي أَنفُسَهُمۡ په خپلو ځانونو فَأَهۡلَكَتۡهُۚ نو دغه(باد) برباد کړي هغه(فصل) وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ او الله تعالی په هغوی ظلم نه دی کړئ وَلَٰكِنۡ او ليکن أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ هغوی پخپله پخپلو ځانونو ظلم کوي ﴿١١٧﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةٗ مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿١١٨﴾

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١١٩﴾

إِن تَمۡسَسۡكُمۡ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡ وَإِن تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ يَفۡرَحُواْ بِهَاۖ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لَا يَضُرُّكُمۡ كَيۡدُهُمۡ شَيۡـًٔاۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿١٢٠﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای مؤمنانو لَا تَتَّخِذُواْ تاسو مه نيسئ بِطَانَةٗ رازدار مِّن دُونِكُمۡ پرته د ستاسو د(مؤمنانو نه.يعنی پرته د مؤمنانو څخه

په کافرانو د خپلو رازونو باور مه کوئ) لَا يَأۡلُونَكُمۡ هغوی(کافران هيڅ)
کمئ نه کوي تاسو ته خَبَالٗا د ضرر رسولو وَدُّواْ هغوی خوښوي مَا
هغه څه عَنِتُّمۡ چې تاسو ته تکليف درکوي (او د کافرانو په زړه کې چې
تاسو ته کوم حسد او کينه ده) قَدۡ بَدَتِ بيشکه ښکاره شوي ده
ٱلۡبَغۡضَآءُ دښمني(او کينه د هغوی) مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ د هغوی د خولو
څخه(يعنی د هغوی د خبرو څخه په ډاګه معلوميږي چې:هغوی ستاسو
دوستان نه دي بلکې که عقل او فکر استعمال کړئ نو د خبرو څخه يې د
دښمنئ بوی راځي،او دا د خولې خبرې خو لا دومره نه دي،که د زړونو
نه يې خبر شئ) وَمَا او هغه څه تُخۡفِي چې پټوي يې صُدُورُهُمۡ د
هغوی سينې(يعنی هغه دښمني او کينه چې د هغوی په زړونو کې تاسو ته
ده،هغه ډيره) أَكۡبَرُۚ لويه ده قَدۡ يقيناً بَيَّنَّا مونږ بيان کړي دي لَكُمُ
تاسو ته ٱلۡأٓيَٰتِۖ نښې(د دښمنئ د کافرانو) إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ که چيرته
تاسو د عقل څخه کار اخلئ(نو وبه ئې پيژنئ چې هغوی ستاسې دښمنان
دي) ﴿۱۱۸﴾

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ خبردار شئ(ای مؤمنانو تاسو هغه خلک يئ تُحِبُّونَهُمۡ چې
تاسو د هغوی(کافرانو) سره محبت کوئ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ او هغوی ستاسو
سره محبت نه کوي وَتُؤۡمِنُونَ او تاسو ايمان لرئ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ په
ټولو کتابونو باندې (تاسو تورات،انجيل،موسی عليه السلام او عيسی عليه
السلام منئ،خو دوی قرآنکريم او محمد صلی الله عليه وسلم نه مني)
وَإِذَا او کله چې لَقُوكُمۡ هغوی ستاسو سره يوځای شي قَالُوٓاْ هغوی
وايي(تاسو ته د منافقت نه) (چې) ءَامَنَّا مونږ ايمان راوړئ دی(په
قرآنکريم او نبي عليه السلام باندې، مونږ هم مسلمانان يو.) وَإِذَا او کله
چې خَلَوۡاْ هغوی يوازې شي(ستاسو نه جدا شي نو) عَضُّواْ هغوی
چيچي عَلَيۡكُمُ په تاسو باندې ٱلۡأَنَامِلَ د ګوتو سرونه مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ د قهر
نه (دومره غصه يې درته راځي چې د ډيرې غصې او قهر نه درته ګوتې

چيچي) قُلۡ ته(ورته) ووايه مُوتُواْ (چې) مړه شئ تاسو بِغَيۡظِكُمۡۗ په
خپلې غصې سره (د غصې نه مړه شئ) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی عَلِيمُۢ
عالم دی بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ په هغې(خبرو)باندې چې په سينو کې دي(چې
په زړونو کې دي) ﴿١١٩﴾

إِن که چيرته تَمۡسَسۡكُمۡ تاسو ته رسيږي حَسَنَةٞ يوه ښيګڼه(يوه 1.
فايده) تَسُؤۡهُمۡ هغوی خفه کيږي وَإِن او که چيرته تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٞ
په تاسو يو مصيبت راځي يَفۡرَحُواْ هغوی خوشاليږي بِهَاۖ په
هغې (مصيبت باندې) وَإِن او که چيرته تَصۡبِرُواْ تاسو صبر
وکړئ وَتَتَّقُواْ او ځان د ګناه نه وساتئ لَا يَضُرُّكُمۡ تاسو ته ضرر
نشي رسولای كَيۡدُهُمۡ مکر(او فريب) د هغوی شَيۡـًٔاۗ هيڅ (د
هغوی چلونه،مکر او فريبونه تاسو ته هيڅ ضرر نشي رسولای خو
صبر او تقوی شرط ده) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی بِمَا په هغو
(اعمالو) باندې يَعۡمَلُونَ چې هغوی يې کوي مُحِيطٌ احاطه
کوونکئ دی. ﴿١٢٠﴾

د ښه پوهيدو دپاره د يو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.

چون د بدر په غزا کې د مشرکانو سرداران مړه شوي وو،نو د
هغوی د انتقام د اخستلو دپاره د مکې د مشرکانو درې زره لښکر د
مدينې منورې په لور راروان شو،محمد صلی الله عليه وسلم د زر
کسانو سره د مدينې نه دباندې د احد خواته وروان شو،درې سوه
منافقان بيرته د لارې نه ترې راوګرځيدل چې د دوی دې
راګرځيدلو د ځينې مسلمانانو په زړه کې هم ويره او بې زړه توب
پيدا کړو خصوصاً بنو حارثه او بنو سلمه چې د مسلمانانو دوه ډلې
وې،دوی هم اراده وکړه چې بيرته وګرځي مګر الله تعالی دوی په
خپل باطني کومک سره کلک کړل،کله چې احد ته ورسيدل نو نبي

عليه السلام صحابه کرام رضی الله عنهم منظم کړل هر چاته يې د
جنګ دپاره ځايونه معلوم کړل،پنځوس غشي ويشتونکي ئې د عبدالله
بن جبير رضی الله عنه په مشرئ د احد د غر په هغه ځای کې مقرر
کړه د کوم خوانه چې د دښمن د حملې خطر وو،او دا ئې هم ورته
وفرمايل چې تاسو به په هيڅ صورت کې دا ځای نه پرېږدئ،که
مونږ فتحه وکړو او که مونږ شکست وخورو خو تاسو به دا ځای نه
پرېږدئ،جنګ شروع شو،په اول کې مسلمانان کامياب شول،
مشرکانو شکست وخوړو او وتښتيدل،مسلمانان د غنيمت د مالونو په
ټولولو لګيا شو،هلته چې د غره د سر څخه هغو پنځوس غشو
ويشتونکو وليدل چې مسلمانانو فتحه وکړه او د غنيمت مالونه
راټولوي نو هغوی هم بي صبري وکړه او د نبي عليه السلام د
هدايت خلاف يې د غنيمت د مال د ټولولو دپاره د غره څخه
راکوزيدل شروع کړل،عبدالله بن جبير رضی الله عنه ورته ډېر
وويل چې ځای مه پرېږدئ دا د نبي عليه السلام هدايت دی چې په
يو صورت کې به هم نه راکوځيږئ،خو هغوی په دې فکر چې
جنګ خلاص شو،فتحه وشوه،مشرکان وتښتيدل،نور نو څه پاتي نه
دي،نو د امير امر يې ونه منلو او څلويښت کسانو ځای پريښودو او
صرف لس کسان د امير يعنی عبدالله بن جبير رضی الله عنه سره
پاتي شول.د بلي خوا نه خالد بن وليد چې د دې وخت پورې مسلمان
نه وو،هغه حالات ساتل کله يې چې وليدل چې ډېر مسلمانان د غره
نه کوز شول او لږ پاتي دي نو سمدستي ئې حمله وکړه ،د غره په
سر پاتي کمو مسلمانانو يې مقابله ونکړای شوه،د غره د خوا نه
مشرکان د خالد بن وليد په مشرئ راواوختل، ،تښتيدلي مشرکان هم
بيرته راوګرځيدل، مسلمانان په منځ کې راګير شول او بلآخره د

امير د امر د نه منلو او بي صبرئ په سبب فتحه په شكست بدله شوه.

وَإِذۡ غَدَوۡتَ مِنۡ أَهۡلِكَ تُبَوِّئُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مَقَٰعِدَ لِلۡقِتَالِۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾

وَإِذۡ او كله چې(اى محمد صلى الله عليه وسلم) غَدَوۡتَ ته ووتلې مِنۡ أَهۡلِكَ د خپل كور نه تُبَوِّئُ تيارول دې ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته مَقَٰعِدَ ځايونه د كيناستلو(مرچې) لِلۡقِتَالِۗ د جنګ دپاره وَٱللَّهُ او الله تعالى سَمِيعٌ اوريدونكئ عَلِيمٌ (او) پوه دى. ﴿١٢١﴾

إِذۡ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمۡ أَن تَفۡشَلَا وَٱللَّهُ وَلِيُّهُمَاۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٢٢﴾

إِذۡ هغه وخت(ياد كړه مؤمنانو ته اى پيغمبر صلى الله عليه وسلم) هَمَّت چې اراده وكړه(قصد وكړو) طَّآئِفَتَانِ دوه ډلو(بنو حارثه او د بنوسلمه) مِنكُمۡ د ستاسو نه أَن تَفۡشَلَا چې بې زړه توب وښي( د لارې نه بيرته كورو ته وګرځي او جهاد پريږدي.) وَٱللَّهُ او الله تعالى وَلِيُّهُمَاۗ د هغوئ مددګار وو(الله تعالى ورسره د دوى د ايمان او نيک عمل په سبب كومک وكړو زړونه يې كلک شو، او بيرته جهاد ته روان شو) وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ نو بايد چې خاص په الله تعالى باندې توكل وكړي(ځان وسپاري) ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان ﴿١٢٢﴾

وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

وَلَقَدۡ او بيشكه نَصَرَ كومک كړئ كُمُ ستاسو سره ٱللَّهُ الله تعالى بِبَدۡرٖ په بدر كې وَ په داسې حال كې چې أَنتُمۡ تاسو أَذِلَّةٞۖ لږ وئ ( يعنى كمزورې وئ،ځكه چې د بدر په غزا كې د مسلمانانو تعداد ٣١٣ كسان وو،يو آس،٧٠ اوښان او ٨ يا لس تورې ورسره وې،مګر د

مشرکامو تعداد ۱۰۰۰ کسان وو،او په جنګي ساز او سامان پوره مکمل مجهز وو) فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ نو تاسو د الله تعالى نه وويرېږئ لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تَشۡكُرُونَ شکرګزار شئ ﴿۱۲۳﴾

إِذۡ تَقُولُ لِلۡمُؤۡمِنِينَ أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ أَن يُمِدَّكُمۡ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿۱۲٤﴾

إِذۡ تَقُولُ (ياد کړه اى محمد صلى الله عليه وسلم) کله چې تا ووېل لِلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنانو ته أَلَن يَكۡفِيَكُمۡ آيا تاسو ته کافي نه ده أَن يُمِدَّكُمۡ چې ستاسو سره مرسته وکړي رَبُّكُم ستاسو رب بِثَلَٰثَةِ په درې ءَالَٰفٖ زره مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ د ملائيکو سره مُنزَلِينَ نازل شوي(راکوزي شوي) ﴿۱۲٤﴾

بَلَىٰٓۚ إِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ وَيَأۡتُوكُم مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا يُمۡدِدۡكُمۡ رَبُّكُم بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿۱۲٥﴾

وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ لَكُمۡ وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦۗ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿۱۲٦﴾ لِيَقۡطَعَ طَرَفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ فَيَنقَلِبُواْ خَآئِبِينَ ﴿۱۲۷﴾

بَلَىٰٓۚ ولي نه: إِن که چیرته تَصۡبِرُواْ تاسو صبر وکړئ وَتَتَّقُواْ او د ګناه نه ځان وساتئ وَيَأۡتُوكُم او هغوى په تاسو راشي(او مشرکان په تاسو حمله وکړي) مِّن فَوۡرِهِمۡ هَٰذَا فوراً(يو ناڅاپه) يُمۡدِدۡكُمۡ ستاسو کومک به وکړي رَبُّكُم ستاسو رب بِخَمۡسَةِ ءَالَٰفٖ په پنځه زره مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ د ملائيکو باندې مُسَوِّمِينَ نښه شوي(چې خاص نښې به لري) ﴿۱۲٥﴾

وَمَا جَعَلَهُ او نه دی ورکړئ دغه(د ملائیکو پواسطه د مرستي خبر) ٱللَّهُ الله تعالی إِلَّا مګر بُشۡرَىٰ زیری (ئې درکړئ) لَكُمۡ تاسو ته(د فتحې) وَلِتَطۡمَئِنَّ او د دې دپاره چې مطمئين شي قُلُوبُكُم ستاسو زړونه بِهِۦۗ په دې خبر باندې وَ او (په حقيقت کې) مَا ٱلنَّصۡرُ مرسته نشته(يعنی ملائيکې او ټول مخلوقات هيڅ کومک او مرسته نشي کولای) إِلَّا مګر (کومک او مرسته صرف) مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ د الله تعالی د طرف نه ده ٱلۡعَزِيزِ (چې) غالب دی(قوی دی) ٱلۡحَكِيمِ (او)حکيم دی. ﴿١٢٦﴾ لِيَقۡطَعَ ( الله تعالی کومک درکړ) د دې دپاره چې هغه جل جلاله قطع کړي(هلاک کړي) طَرَفٗا يو طرف (يوه برخه) مِّنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُوٓاْ چې هغوی کافران دي أَوۡ يَكۡبِتَهُمۡ يا ئې ذليل کړي(په شکست سره) فَيَنقَلِبُواْ نو هغوی به وګرځي (لاړ به شي بيرته خپلو ځايونو ته) خَآئِبِينَ محروم(او نااميده) ﴿١٢٧﴾

﴿ لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٨﴾

د آيت د ترجمې په پوهيدلو باندې د دې معلومات ذکر کول ضرور دي

د احد په غزا کې مسلمانانو ته ډېر تکليف ورسيده ۷۰ تنه لوی صحابه کرام رضی الله عنهم د حضرت حمزه رضی الله عنه په شمول شهيدان شو .هندې د ابو سفيان ښځې د حمزه رضی الله تعالی عنه پوزه او غوږونه غوځ کړل،ګيده يې ورته څيرې کړه، جيګر مبارک ئې ترې راوښکلو او په خوله کې ئې وژولو ، او د محد صلی الله عليه وسلم غاښونه مبارک شهيدان شو،د زغري کړی ئې ماته شوه او په مبارک مخ کې ئې ننوته او مبارک تندی ئې زخمي شو او پينه مبارکه ئې وښوئيده،هغه مبارک صلی الله عليه وسلم په ځمکه ولويد، او بيهوشه شو،لږ وروسته چې په هوش کې راغئ،نو په دغې وخت کې د ده د مبارکې خولې نه دا جمله ووته.«هغه قوم به څنګه فلاح او کاميابي ومومي چې:د خپل هغه رسول

مخ يي په وينو سور کړ چي هغوی ته د الله تعالی جل جلاله طرف ته دعوت او بلنه ورکوي».نو محمد صلی الله تعالی علیه وسلم د مشرکانو څو نامورو متجاوزينو ته د ښيرا کولو اراده وفرمايله،نو دا آيت نازل شو:

لَيۡسَ (ای محمد صلی الله علی وسلم) نشته لَكَ تا ته مِنَ ٱلۡأَمۡرِ په دې کار کې شَيۡءٌ هيڅ اختيار (دا د الله تعالی اختيار دی،) أَوۡ يَتُوبَ يا به هغه جل جلاله مهرباني وکړي عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې( د توبې کولو توفيق به ورکړي) أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ يا به هغه جل جلاله عذاب ورکړي هغوی ته فَإِنَّهُمۡ ځکه چې هغوی ظَٰلِمُونَ ظالمان دي. ﴿١٢٨﴾

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ يَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٢٩﴾

وَلِلَّهِ او خاص د الله تعالی دي مَا هغه څه فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه څه چې فِي ٱلۡأَرۡضِۚ په ځمکه کې دي يَغۡفِرُ هغه جل جلاله ښښنه کوي لِمَن چا ته يَشَآءُ چې هغه جل جلاله غواړي وَيُعَذِّبُ او هغه جل جلاله عذاب ورکوي مَن يَشَآءُۚ څوک چې هغه جل جلاله غواړي وَٱللَّهُ او الله تعالی غَفُورٞ ښښونکئ رَّحِيمٞ (او) مهربان دی. ﴿١٢٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿١٣٠﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو خلکو چې ايمان يې راوړئ دی (ای مؤمنانو) لَا تَأۡكُلُواْ تاسو مه خورئ ٱلرِّبَوٰٓاْ سود أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗۖ دوه چنده-دوه چنده وَٱتَّقُواْ او تاسو وويرېږئ ٱللَّهَ د الله تعالی څخه(د الله تعالی نه

وويريږئ، سود مه کوئ) لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې تاسو تُفۡلِحُونَ
کامياب شئ(چې د دوزخ نه خلاص شئ او جنت ته لاړ شئ) ﴿١٣٠﴾

وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٣١﴾

وَٱتَّقُواْ او تاسو وويريږئ ٱلنَّارَ د اور نه ٱلَّتِيٓ د هغه(اور نه) أُعِدَّتۡ
چې هغه(اور) تيار شوئ دی لِلۡكَٰفِرِينَ د کافرانو دپاره(چې د قرآنکريم
دا آيت نه منې او سود کوي) ﴿١٣١﴾

وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿١٣٢﴾

وَأَطِيعُواْ او تاسو اطاعت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی وَٱلرَّسُولَ او د پيغمبر
(صلی الله عليه وسلم) لَعَلَّكُمۡ د دې دپاره چې په تاسو تُرۡحَمُونَ رحم
وشي. ﴿١٣٢﴾

۞ وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ
لِلۡمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي ٱلسَّرَّآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ
يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٣٤﴾

۞ وَسَارِعُوٓاْ او تاسو تادي وکړئ(چالاکي وکړئ) إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ ببننې ته
مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب وَجَنَّةٍ او(تادي وکړئ) جنت ته عَرۡضُهَا چې
پلنوالی د هغې(جنت) ٱلسَّمَٰوَٰتُ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضُ او ځمکې په
اندازه دی أُعِدَّتۡ چې تيار شوئ دی هغه(جنت) لِلۡمُتَّقِينَ متقيانو ته
﴿١٣٣﴾

ٱلَّذِينَ (متقيان)هغه خلک دي يُنفِقُونَ چې مصرف کوي(د الله تعالی د
رضا دپاره) فِي ٱلسَّرَّآءِ په خوشالۍ کې وَٱلضَّرَّآءِ او په تکليف کې(که

مالدار وي او که غريب د الله تعالى د رضا دپاره مصرف كوي چې څه يې وسه كيږي) وَٱلۡكَٰظِمِينَ او زغمونكي ٱلۡغَيۡظَ د غصې دي(سره د قدرته) وَٱلۡعَافِينَ او عفوه كوونكي عَنِ ٱلنَّاسِۗ د خلكو دي وَٱللَّهُ او الله تعالى يُحِبُّ خوښوي ٱلۡمُحۡسِنِينَ احسان كوونكي. ﴿١٣٤﴾

وَٱلَّذِينَ او(متقيان)هغه خلک دي إِذَا كله چې فَعَلُواْ هغوى وكړي فَٰحِشَةً يوه بي حيايي أَوۡ يا ظَلَمُوٓاْ هغوى ظلم وكړي أَنفُسَهُمۡ په ځپلو ځانونو ذَكَرُواْ ٱللَّهَ هغوى الله تعالى يادوي فَٱسۡتَغۡفَرُواْ او دوى ښښنه غواړي لِذُنُوبِهِمۡ د خپلو ګناهونو دپاره وَمَن او څوک دى؟ يَغۡفِرُ چې هغه ښښي ٱلذُّنُوبَ ګناهونه إِلَّا ٱللَّهُ پرته د الله تعالى؟ نه(يعنى پرته دالله تعالى څخه هيڅوک د چا ګناه نشي ښښلئ) وَلَمۡ يُصِرُّواْ او هغوى هميشه والئ نكوي عَلَىٰ مَا په هغې(ګناه)باندې فَعَلُواْ چې دوى يې وكړي(چې ګناه وكړي،نو تكرارً يا بيا-بيا هغه ګناه نه كوي بلكې توبه وباسي او نور ترې ځان ساتي) وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ او دوى پوهيږي. ﴿١٣٥﴾

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغۡفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمۡ وَجَنَّٰتٌ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَنِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿١٣٦﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه(خلک) جَزَآؤُهُم بدل د هغوى مَّغۡفِرَةٌ ښښنه ده مِّن رَّبِّهِمۡ د خپل رب د طرف نه وَجَنَّٰتٌ او جنتونه (دي) تَجۡرِي (چې) بهيږي مِن تَحۡتِهَا د هغې(جنتونو)لاندې ٱلۡأَنۡهَٰرُ ويالې خَٰلِدِينَ (دوى) به هميشه وي فِيهَاۚ په هغې(جنتونو)کې وَنِعۡمَ او ښه دى أَجۡرُ اجر(بدل) ٱلۡعَٰمِلِينَ د عمل كوونكو ﴿١٣٦﴾

قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُمۡ سُنَنٞ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ

﴿۱۳۷﴾

قَدۡ په تحقيق سره خَلَتۡ تير شوي دي مِن قَبۡلِكُمۡ مخكې د ستاسو څخه سُنَنٞ واقعات(پیښې) فَسِيرُواْ نو تاسو وګرځئ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه كې فَٱنظُرُواْ او وګورئ كَيۡفَ كَانَ چې څنګه شو عَٰقِبَةُ انجام ٱلۡمُكَذِّبِينَ د دروغ ګڼونكو(چې د الله تعالی رسولان يې دروغ ګڼل) ﴿۱۳۷﴾

هَٰذَا بَيَانٞ لِّلنَّاسِ وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿۱۳۸﴾

هَٰذَا دا(قرآنكريم) بَيَانٞ بيان دی(وضاحت دی) لِّلنَّاسِ انسانانو ته وَهُدٗى او لارښودنه وَمَوۡعِظَةٞ او نصيحت دی لِّلۡمُتَّقِينَ پرهيزګارانو ته. ﴿۱۳۸﴾

وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾

إِن يَمۡسَسۡكُمۡ قَرۡحٞ فَقَدۡ مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيۡنَ ٱلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ شُهَدَآءَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿۱٤۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَيَمۡحَقَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿۱٤۱﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ مِنكُمۡ وَيَعۡلَمَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿۱٤۲﴾ وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿۱٤۳﴾

د دې مباركو آيا‌تونو خطاب په خاص ډول د احد مجاهدينو ته دی او په عام ډول د قيامت پورې ټولو مجاهدينو ته دی

وَلَا تَهِنُواْ او تاسو مه سستيږئ(مه بې زړه كيږئ،مه نااميده او كمزوره كيږئ) وَلَا تَحۡزَنُواْ او مه غمجن كيږئ وَأَنتُمُ او همدا تاسو ٱلۡأَعۡلَوۡنَ

کامیاب یاستئ إِن (په دې شرط) که چیرته كُنتُم تاسو یاستئ مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان ﴿١٣٩﴾

إِن يَمۡسَسۡكُمۡ که تاسو ته ورسیدو قَرۡحٞ زخم(یعنی شکست د احد په غزا کې) فَقَدۡ نو بیشکه مَسَّ ٱلۡقَوۡمَ کافرانو ته هم رسیدلئ وو قَرۡحٞ مِّثۡلُهُۥۚ همداسې زخم(یعنی شکست د بدر په غزا کې) وَتِلۡكَ ٱلۡأَيَّامُ او دا ورځې دي(د فتحې او شکست،د خوشالئ او غم) نُدَاوِلُهَا ( چې)مونږ ئې اړوو راړوو بَيۡنَ ٱلنَّاسِ د خلک په منځ کې(د حکمت دپاره) وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ او د دې دپاره چې الله تعالی ښکاره کړي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هغه کسان چې مؤمنان دي وَيَتَّخِذَ مِنكُمۡ او واخلي د ستاسو ځنې شُهَدَآءَۗ شهیدان(چې د ستاسو څخه ځینې خلکو ته د شهادت د مقام د ورکولو پواسطه هغوی ته لوې عزت او شرافت ورکړي) وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ او الله تعالی نه خوښوي ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمان(الله تعالی دا نه خوښوي چې کافران دې په مسلمانانو باندې ظلم وکړي او هغوی دې شهیدان کړي،بلکې د پردې شاته خبره بالکل بل قسم ده،همدا شهیدان کامیاب او باعزته دي،او د هغوی قاتلان ناکام او ذلیل دي) ﴿١٤٠﴾ وَلِيُمَحِّصَ ٱللَّهُ او د دې دپاره چې الله تعالی پاک کړي(د ګناهونو نه) ٱلَّذِينَ هغه خلک ءَامَنُواْ چې مؤمنان دي وَيَمۡحَقَ او هغه جل جلاله هلاک کړي ٱلۡكَٰفِرِينَ کافران. ﴿١٤١﴾ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ آیا تاسو ګمان کوئ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ چې تاسو به جنت ته ننوځئ(پرته د امتحان نه) وَ حال دا چې لَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ لا تر اوسه پورې الله تعالی نه دي معلوم کړي ٱلَّذِينَ هغه خلک جَٰهَدُواْ چې جهاد کوي مِنكُمۡ ستاسو نه(د الله تعالی په لار کې) وَيَعۡلَمَ او( نه ئې ستاسو نه لا تر اوسه پورې) معلوم کړي دي ٱلصَّٰبِرِينَ صبر کوونکي.(نه درباندې تر اوسه پورې د الله تعالی په لار کې د کوشش ،جدو جهد ،تکلیفونو او صدمو رسیدلو امتحان راغلئ دی،او نه درباندې په تکلیفونو د صبر کولو امتحان راغلئ دی،او پرته د امتحان ورکولو جنت ته تلل غواړئ.هیڅکله داسې

نه کيږي،الله تعالی بنده دنيا ته د امتحان ورکولو دپاره راليږلئ دی،او د
همدې امتحان د نتايجو په اساس د جنت يا دوزخ انتخاب کيږي.) ﴿١٤٢﴾
وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ او په تحقيق سره تاسو ارمان کړئ وو د(شهادت
د مرگ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ مخکې د دې چې تاسو مخ شئ د هغه
سره(د احد په غزا کې) فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ نو بيشکه چې تاسو وليدلو هغه(د
شهادت مرگ چې ستاسو ملگري شهيدان کيدل) وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ او تاسو
کتل. ﴿١٤٣﴾

د احد په غزا کې اوازه خوره شوه چې محمد صلی الله عليه وسلم شهيد
شو،چې د دې خبر په اوريدو سره په ډيرو مسلمانانو باندې هيبت راغئ
اوضعف په کې پيدا شو،او د يو څه وخت دپاره جنگ بند شو،بيا محمد
صلی الله عليه وسلم غږ وکړو چې ای د الله بندگانو څما طرف ته
راشئ،نو صحابه کرام رضی الله عنهم بيرته ټول راټول شول او جنگ
شروع شو.نو الله تعالی د احد دغزا نه وروسته دا آياتونه نازل کړل!

وَمَا مُحَمَّدٌ او نه دی محمد(صلی الله عليه وسلم) إِلَّا رَسُولٞ مگر پيغمبر
دی قَدۡ خَلَتۡ (چې) بيشکه تير شوي دي مِن قَبۡلِهِ مخکې د هغه(صلی
الله عليه وسلم نه) ٱلرُّسُلُۚ پيغمبران أَفَإِيْن مَّاتَ نو آيا که چيرته هغه
(صلی الله عليه وسلم) وفات شي أَوۡ قُتِلَ او يا قتل شي ٱنقَلَبۡتُمۡ (آيا)
تاسو به گرځئ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡۚ په خپلو پوندو باندې(يعنی بيرته به د اسلام
څخه پخواني شرک او کفر ته گرځئ) وَمَن يَنقَلِبۡ او څوک چې
وگرځي عَلَىٰ عَقِبَيۡهِ په خپلو پوندو باندې(يعنی څوک چې اسلام پريږدي
اوبيرته پخواني شرک او کفر ته وگرځي) فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ نو الله تعالی
ته به هيڅ ضرر ونه رسوي(بلکې ټول ضرر به خپل ځان ته ورسوي)
وَسَيَجۡزِي ٱللَّهُ او الله تعالی به بدل ورکړي ٱلشَّٰكِرِينَ شکر کوونکو ته.
﴿١٤٤﴾

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًاۗ وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَا وَمَن يُرِدۡ ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ نُؤۡتِهِۦ مِنۡهَاۚ وَسَنَجۡزِي ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٥﴾

وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ او د يو چا دپاره ممكنه نه ده أَن تَمُوتَ چه هغه مړ شي إِلَّا مګر(هر څوک چې مړ کيږي) بِإِذۡنِ ٱللَّهِ د الله تعالى په حكم باندې كِتَٰبًا مُّؤَجَّلًاۗ (په) ليکل شوي نيته(مړ کيږي) وَمَن او څوک يُرِدۡ چې هغه غواړي ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا بدل د د نيا(هر كار صرف د دنيا د لاس ته راوړلو دپاره کوي) نُؤۡتِهِۦ مونږ ورکوو هغه ته مِنۡهَا د هغې نه(د نيا نه) وَمَن او څوک يُرِدۡ چې هغه غواړي ثَوَابَ ٱلۡأٓخِرَةِ بدل د آخرت نُؤۡتِهِۦ مونږ ورکوو هغه ته مِنۡهَاۚ د هغه نه(د آخرت نه) وَسَنَجۡزِي او مونږ به بدل ورکړو ٱلشَّٰكِرِينَ شُکر کوونکو ته. ﴿١٤٥﴾

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٤٦﴾

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ او ډېر د پيغمبرانو قَٰتَلَ مَعَهُۥ (چې)د هغوى په ملګرتيا سره جنګ کړئ وو(جهاد کړئ وو) رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ ډېرو الله پرستانو خلكو فَمَا وَهَنُواْ نو هغوى به نه سستيدل(په جهاد كې) لِمَآ أَصَابَهُمۡ په سبب د هغو (تكليفونو) چې دوى ته به رسيدل فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په لار كې وَمَا ضَعُفُواْ او نه به كمزوري كيدل(د كمزورى احساس به يې نه كولو) وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ او نه به يې سر ټيټولو(دښمنانو ته) وَٱللَّهُ يُحِبُّ او الله تعالى خوښوي ٱلصَّٰبِرِينَ صبر كوونكي(په سختيو او تكليفونو كې ثابت قدمه) ﴿١٤٦﴾

وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٤٧﴾

وَمَا كَانَ او نه وه قَوۡلَهُمۡ خبره د هغوی(مجاهدينو) إِلَّآ أَن قَالُواْ پرته
د دې چې ويل به يې رَبَّنَا اى زمونږ ربه ٱغۡفِرۡ لَنَا بخښنه وکړه مونږ
ته ذُنُوبَنَا زمونږ د ګناهونو وَإِسۡرَافَنَا او (بخښنه وکړه مونږ ته) د حده
د تيريدلو زمونږ فِيٓ أَمۡرِنَا په کار زمونږ کې وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا او ټينګ
کړې(مجکم کړې)قدمونه زمونږ وَٱنصُرۡنَا او زمونږ مرسته وکړه عَلَى
ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ په قوم د کافرانو باندې(د کافرانو په مقابيل کې زمونږ سره
کومک وکړه) ﴿١٤٧﴾

فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٤٨﴾

فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ نو الله تعالی ورکړو دوی ته ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا د دنيا ثواب
وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ او ښه ثواب د آخرت وَٱللَّهُ يُحِبُّ او الله تعالی
خوښوي ٱلۡمُحۡسِنِينَ نيکي کوونکي. ﴿١٤٨﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ
خَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ اى مؤمنانو إِن که چيرته تُطِيعُواْ تاسو اطاعت
کوئ ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) كَفَرُواْ چې هغوی کافران دي يَرُدُّوكُمۡ
هغوی به وګرځوي(بيرته) تاسو عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ ستاسو په پوندو باندې(د
کفر خوا ته) فَتَنقَلِبُواْ او تاسو به وګرځئ(او تاسو به شئ) خَٰسِرِينَ
تاوانيان(يعنی بيا به مو کافران کړي) ﴿١٤٩﴾

بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ﴿١٥٠﴾

بَلِ بلکه ٱللَّهُ الله تعالی مَوۡلَىٰكُمۡۖ ستاسو مرسته کوونکئ دی وَهُوَ او
هغه جل جلاله خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ډير ښه مرسته کوونکئ دی. ﴿١٥٠﴾

سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗاۖ
وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾

په دې مبارک آيت کې د اُحد په غزا کې د کافرانو د بيرته تللو سبب ذکر شوئ دی ،چې ولې مشرکان سره د دې چې فتحه يې حاصل کړې وه،نو بيا يې ولې د جنګ ميدان پرېښودو او واپس بيرته لاړل پرته د دې چې خپل اصلي هدف لاس ته راوړي،محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرام رضى الله عنهم غره ته وختل،خالد بن وليد وويل چې مونږ. بايد دوی تعقيب کړو،او دا معامله او قصه بايد نوره ختمه شي،ليکن د ابوسفيان په زړه کې الله تعالى داسې رعب او ويره واچوله چې د کفارو ټول لښکر ته ئې بيرته د واپس تللو حکم وکړو او ټول لښکر ئې د هغې ځای څخه بوتلو،که نه نو واقعاً صورت حال ډېر تشويشناک وو.

سَنُلۡقِي مونږ. به(ډېر زر) واچوو فِي قُلُوبِ په زړونو کې ٱلَّذِينَ د هغو(خلکو) كَفَرُواْ چې هغوی کافران دي ٱلرُّعۡبَ ويره بِمَآ په دې سبب أَشۡرَكُواْ چې هغوی شريکولو بِٱللَّهِ د الله تعالى سره مَا هغه (شی) لَمۡ يُنَزِّلۡ چې هغه(جل جلاله) نه دی نازل کړی بِهِۦ د هغې په باره کې سُلۡطَٰنٗاۖ کوم دليل(په شريک نيولو د هغې شي) وَمَأۡوَىٰهُمُ او ځای د دوی(مشرکانو) ٱلنَّارُۖ اور دی وَبِئۡسَ او بد مَثۡوَى ځای د اوسيدو دی ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو ﴿١٥١﴾

وَلَقَدۡ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥٓ إِذۡ تَحُسُّونَهُم بِإِذۡنِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلۡتُمۡ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ وَعَصَيۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ ثُمَّ صَرَفَكُمۡ عَنۡهُمۡ لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ وَلَقَدۡ عَفَا عَنكُمۡۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٥٢﴾

وَلَقَدۡ او بيشکه صَدَقَكُمُ پوره کړه ستاسو ته ٱللَّهُ الله تعالى وَعۡدَهُۥٓ خپله وعده (د نصرت او فتحی) إِذۡ تَحُسُّونَهُم (ياد کړئ) هغه وخت چه تاسو هغوی وژل بِإِذۡنِهِۦۖ د هغه جل جلاله په حکم سره (د اُحد د غزا په اول کې مو فتح وکړه،کافران وتښتيدل او د غنيمت مالونه ترې پاتې شول)

حَتَّىٰٓ تر څو چه إِذَا كله فَشِلۡتُمۡ تاسو بې زړه شوئ وَتَنَٰزَعۡتُمۡ او
اختلاف مو وكړ فِي ٱلۡأَمۡرِ په امر(د پيغمبر صلى الله عليه وسلم)كې(نبي
عليه السلام چه كوم غشي ويشتونكي په كوم كنډو كې مقرر كړي وو،او
امر يې ورته كړئ وو چه تاسو به په هيڅ صورت كې هم دا ځاى نه
پريږدئ حتى تر دې پورې كه نور مجاهدين كامياب شي او كه ناكام خو
تاسو به دا ځاى نه پريږدئ تر څو دبمن د شاه د خوانه حمله ونه كړي )
وَعَصَيۡتُم او نافرماني مو وكړه مِّنۢ بَعۡدِ مَآ وروسته د هغې څخه أَرَىٰكُم
چه هغه جل جلاله دروښودل تاسو ته مَّا هغه څه تُحِبُّونَۚ چه تاسو
خوښول(فتح او غنيمت نو د پنځوس كسانو څخه څلويښت كسانو غشو
ويشتونكو سنګرونونه پريښودل او د غنيمت د مال د ټولولو دپاره د مُرچو
څخه راكوز شو ،نو كافرانو سمدستي د شاه د خوانه حمله وكړه) مِنكُم
ځيني د ستاسو نه مَّن هغه څوک دي يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا چه دنيا غواړي
وَمِنكُم او ځيني د ستاسو نه مَّن هغه څوک دي يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ چه
آخرت غواړي ثُمَّ بيا صَرَفَكُمۡ هغه جل جلاله وګرځولئ تاسو عَنۡهُمۡ
د هغوى نه(دغنيمتونو په راټولولو بوخت شوئ،او د دبمن تعقيبول
درڅخه پاتې شو) لِيَبۡتَلِيَكُمۡۖ د دې دپاره چه(الله تعالى) په تاسو امتحان
وكړي وَلَقَدۡ او بيشكه عَفَا عَنكُمۡۗ هغه جل جلاله معاف كړئ تاسو
وَٱللَّهُ او الله تعالى ذُو فَضۡلٍ څښتن د فضل دى عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ په
مؤمنانو باندې. ﴿١٥٢﴾

۞ إِذۡ تُصۡعِدُونَ وَلَا تَلۡوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٖ وَٱلرَّسُولُ يَدۡعُوكُمۡ فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ فَأَثَٰبَكُمۡ
غَمَّۢا بِغَمّٖ لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا مَآ أَصَٰبَكُمۡۗ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ
﴿١٥٣﴾

۞ إِذۡ (ياد كړئ)كله چه تُصۡعِدُونَ تاسو منډې وهلې(چا د مدينې
منورې طرف ته او چا د غره طرف ته) وَلَا تَلۡوُۥنَ او شاته مو نه كتل

عَلَىٰٓ أَحَدٖ هيڅ چا ته وَٱلرَّسُولُ او پيغمبر صلى الله عليه و سلم يَدۡعُوكُمۡ رابللئ تاسو فِيٓ أُخۡرَىٰكُمۡ د وروسته نه تاسو (نبي عليه السلام ستاسو پسې اوازونه كول چه: اى د الله تعالى بنده ګانو ځما خواته راشئ،زه دلته يم،منډې مه وهئ،مګر تاسو دومره ورخطاء وئ چه د هغه صلى الله على وسلم اواز ته مو فكر هم نه وو) فَأَثَٰبَكُمۡ نو هغه جل جلاله ورسولو تاسو ته غَمَّۢا بِغَمّٖ يوغم دپاسه د(بل) غم(اول غم د شكست غم او بيا د پيغمبر عليه السلام د شهادت د اواز د اوريدلو غم) لِّكَيۡلَا تَحۡزَنُواْ د دې دپاره چه تاسو خپه نه شئ عَلَىٰ مَا په هغې څه باندې فَاتَكُمۡ چه ستاسو نه فوت شو(د غنيمت مال او خپل مجاهد ملګري مو د لاسه وركړل،ځكه چه د شهادت لوړ مقام ته ورسيدل) وَلَا مَآ او نه په هغې(تكليفونو خپه شئ) أَصَٰبَكُمۡۗ چه تاسو ته (په جنګ كې) دروروسيدل(ځكه چه دا قانون دى كله چه لوى غم راشي وړوكى غم هير شي،نو كله چه د پيغمبر على السلام د شهادت اواز خور شو نو دا دومره لوى او دروند غم وو چه د اصحابانو نه نور ټول غمونه لكه دغنيمت،شكست او شهيدانو غمونه هير شول خو كله چه بيرته خبر شو چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ژوندى دى نو ډېر زيات خوشاله شو او د شكست او شهيدانو د غمونو زغمل او تحمل كول ورته ډېر اسانه شول وَٱللَّهُ او الله تعالى خَبِيرُۢ خبر دى بِمَا په هغې څه باندې تَعۡمَلُونَ چه تاسو يې كوئ ﴿١٥٣﴾

ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيۡكُم مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ أَمَنَةٗ نُّعَاسٗا يَغۡشَىٰ طَآئِفَةٗ مِّنكُمۡۖ وَطَآئِفَةٞ قَدۡ أَهَمَّتۡهُمۡ أَنفُسُهُمۡ يَظُنُّونَ بِٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ مِن شَيۡءٖۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ كُلَّهُۥ لِلَّهِۗ يُخۡفُونَ فِيٓ أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبۡدُونَ لَكَۖ يَقُولُونَ لَوۡ كَانَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٞ مَّا قُتِلۡنَا هَٰهُنَاۗ قُل لَّوۡ كُنتُمۡ فِي بُيُوتِكُمۡ لَبَرَزَ ٱلَّذِينَ كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَتۡلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ وَلِيَبۡتَلِيَ ٱللَّهُ مَا فِي صُدُورِكُمۡ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِي قُلُوبِكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٥٤﴾

ثُمَّ بيا أَنزَلَ هغه جل جلاله نازل كړ عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّنۢ بَعۡدِ ٱلۡغَمِّ وروسته د دې غم نه أَمَنَةٗ امن(اطمنان او بي غمي) نُّعَاسٗا چه د خوب پركالي وه يَغۡشَىٰ چه هغې(د خوب پركالى) پټوله(نيوله) طَآئِفَةٗ يوه ډله(د مؤمنانو) مِّنكُمۡۖ ستاسو نه(ابو طلحه رضى الله عنه فرمايې چه په مونږ باندې داسې خوب راغئ چه درې ځله به توره ځما د لاسه د پركالى په سبب ولويده او ما به بيا راواخسته،چه د دې خوب فايده دا شوه چه د مجاهدينو د زړونو څخه ويره او د نااميدى اثرات او د بدنونو څخه يې د ستومانى اثرات بالكل ختم شو،او تر او تازه او خوشاله شو،او د دښمن سره د بيا مقابلې دپاره تيار شو.) وَطَآئِفَةٞ او يوه ډله(په تاسو كې هغه وه چه منافقان وو) قَدۡ يقيناً أَهَمَّتۡهُمۡ هغوى په فكر كې وو أَنفُسُهُمۡ (صرف) د خپلو ځانونو(نه ورسره د دين غم وو او نه ورسره د نبي عليه السلام غم وو،د دوى ملګري د لارې څخه بيرته ګرځيدلي وو خو يو نيم بيا وروسته شايد چه د غنيمت دپاره دپاره راغلئ وي) يَظُنُّونَ هغوى ګمان كولو بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ ناحقه ظَنَّ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِۖ ګمان د جاهليت (د الله تعالى په باره كې ئې بي حقيقته د جاهلانو په شان ګمان كولو) يَقُولُونَ دوى به ويل هَل لَّنَا آيا زمونږ دپاره(هم) مِنَ ٱلۡأَمۡرِ د اختيار څخه(په يو كار كې د مشورې وركولو) مِن شَيۡءٍۗ څه حصه(يا حق شته دى او كه نشته؟او كه ټول اختيار صرف د محمد صلى الله عليه وسلم دى؟ځكه چه منافقانو د مدينې منورې په داخل كې د جنګ مشوره وركړې وه) قُلۡ (اى محمد صلى الله عليه وسلم دوى ته) ووايه إِنَّ ٱلۡأَمۡرَ بيشكه اختيار كُلَّهُۥ ټول (اختيار) لِلَّهِۗ صرف د الله تعالى دى يُخۡفُونَ (اى محمد صلى الله عليه وسلم) دا(منافقان) پټوي فِيٓ أَنفُسِهِم په خپلو زړونو كې مَّا هغه(خبرې) لَا يُبۡدُونَ(چه)نه يې ښكاره كوي لَكَۖ تا ته يَقُولُونَ (اى محمد صلى الله عليه وسلم) دوى وايې لَوۡ كه چيرته كَانَ وو لَنَا مونږ ته مِنَ ٱلۡأَمۡرِ د اختيار نه(په

مشوره ورکولو کې شَيۡءٞ یو څه برخه(یا یو څه حق او زمونږ مشوره
منل شوي وه،یعنی جنګ د مدینې منورې څخه دباندې نه وو شوئ نو...)
مَّا قُتِلۡنَا نه به وو وژل شوي مونږ(زمونږ ملګري) هَٰهُنَاۗ دلته(په دې
غزا د اُحد کې) قُل (ای محمد صلی الله علیه وسلم دوی ته ) ووایه لَّوۡ
که چیرته كُنتُمۡ تاسو وئ فِي بُيُوتِكُمۡ په خپلو کورونو کې لَبَرَزَ (نو)
خامخا به راوتلي وو ٱلَّذِينَ هغه خلک كُتِبَ چه لیکل شوئ وو(په
تقدیر کې،چه فیصله شوي وه) عَلَيۡهِمُ په دوی باندې ٱلۡقَتۡلُ د مرګ(د
شهادت) إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمۡۖ د خپل مرګ ځایونو ته(به راوتلي وو) وَلِيَبۡتَلِيَ
او (او دغه معامله الله تعالی په احد کې وکړه) د دې دپاره چه امتحان
کړي ٱللَّهُ الله تعالی مَا هغه څه فِي صُدُورِكُمۡ چه ستاسو په
سینو(زړونو) کې دي وَلِيُمَحِّصَ او د دې دپاره چه هغه جل جلاله
ښکاره کړي مَا هغه څه فِي قُلُوبِكُمۡۚ چه ستاسو په زړونو کې دي
وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمُۢ عالم دی بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ په هغو خبرو چه په
سینو کې پرتې دي ﴿١٥٤﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ مِنكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ إِنَّمَا ٱسۡتَزَلَّهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِبَعۡضِ مَا
كَسَبُواْۖ وَلَقَدۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ﴿١٥٥﴾

إِنَّ بیشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک تَوَلَّوۡاْ چه هغوی وګرځیدل مِنكُمۡ د
ستاسو نه (د جنګ څخه) يَوۡمَ په هغې ورځ ٱلۡتَقَى چه مخامخ شول
ٱلۡجَمۡعَانِ دوه فوځونه(په اُحد کې) إِنَّمَا بیشکه چه ٱسۡتَزَلَّهُمُ هغوی
وښویل(تیرویستل) ٱلشَّيۡطَٰنُ شیطان بِبَعۡضِ په سبب د ځینو مَا هغو
(ګناهونو) كَسَبُواْۖ چه هغوی کړي وو(چه د آمیر د اجازې څخه پرته د
غشو ویشتونکو د مُرچو پریښودل وو) وَلَقَدۡ او بیشکه عَفَا ٱللَّهُ الله
تعالی عفوه کړې ده عَنۡهُمۡۗ هغوی ته (نو هیڅوک دا نشي ویلای چه
صحابه کرام رضی الله عنهم ګناهګاران وو،ځکه چه الله تعالی فرمایې ما

دوی ته معافي وکړه،نو هیڅوک حق نلري چه ملامتیا ورباندي واچوي،ځکه چه د دوی تیخته د منافقت نتیجه نه وه بلکه دا یوه مؤقتي غلطي وه.) إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی غَفُورٌ ښونکئ حَلِيمٌ (او)صبر کوونکئ دی ﴿١٥٥﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقَالُواْ لِإِخْوَٰنِهِمْ إِذَا ضَرَبُواْ فِي ٱلْأَرْضِ أَوْ كَانُواْ غُزًّى لَّوْ كَانُواْ عِندَنَا مَا مَاتُواْ وَمَا قُتِلُواْ لِيَجْعَلَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْۗ وَٱللَّهُ يُحْيِۦ وَيُمِيتُۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾

عبدالله بن ابی منافق او د هغه منافقین ملګري د اُحد د لاری نه بیرته راوګرځیدل او مدیني منوری ته لاړل،او خپلو منافقینو ته به یي ویل چه دا خلک(یعني صحابه کرام رضی الله عنه)که د محمد صلی الله علیه وسلم سره په سفر او جهاد ته نه وو تللي او زمونږ سره دلته پاتي شوي وو،نو نه به مړه کیدل او نه به وژل کیدل.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو خلکو چه ایمان یي راوړئ دی(ای مؤمنانو) لَا تَكُونُواْ تاسو مه کیږئ كَٱلَّذِينَ د هغو خلکو په شان (د هغو خلکو په شان خبري مه کوئ) كَفَرُواْ چه کافران دي وَقَالُواْ او وايي دوی لِإِخْوَٰنِهِمْ د خپلو وروڼو په باره کي إِذَا کله چه ضَرَبُواْ هغوی(یعنی د دوی وروڼه د الله تعالی په لار کي) سفر کوی فِي ٱلْأَرْضِ په ځمکه کي(او مړه شي) أَوْ یا كَانُواْ هغوی وي غُزًّى غزاکوونکي(چه جهاد کوي،او شهیدان شي نو دوی وايي) لَّوْ که كَانُواْ وو هغوی(یعنی زمونږ وروڼه) عِندَنَا زمونږ سره(او سفر او جهاد ته نه وو تللي) مَا مَاتُواْ نه به هغوی مړه شوي وو وَمَا قُتِلُواْ او نه به وژل شوي وو لِيَجْعَلَ(د دې دپاره چه وګرځوي ٱللَّهُ الله تعالی ذَٰلِكَ (د هغوی) دا ګمان(او خبرې) حَسْرَةً افسوس(او ارمان) فِي قُلُوبِهِمْۗ د هغوی په زړونو کي وَٱللَّهُ او الله تعالی يُحْيِۦ ژوندي کول کوي وَيُمِيتُۗ او

مړه كول كوي وَٱللَّهُ او الله تعالى بِمَا په هغې څه باندې تَعۡمَلُونَ چه
تاسو يې كوئ بَصِيرٌ ليدونكئ دى ﴿١٥٦﴾

وَلَئِن قُتِلۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوۡ مُتُّمۡ لَمَغۡفِرَةٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَحۡمَةٌ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ
﴿١٥٧﴾

وَلَئِن او قسم دى كه چيرته قُتِلۡتُمۡ تاسو ووژل شئ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په لار كې أَوۡ مُتُّمۡ يا مړه شئ (د الله تعالى په لار كې) لَمَغۡفِرَةٞ بيشكه بخښنه مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى وَرَحۡمَةٌ او رحمت (د الله تعالى) خَيۡرٞ بهتر دي مِّمَّا د هغې (مال) نه يَجۡمَعُونَ چه دوى يې جمع كوي.
﴿١٥٧﴾

وَلَئِن مُّتُّمۡ أَوۡ قُتِلۡتُمۡ لَإِلَى ٱللَّهِ تُحۡشَرُونَ ﴿١٥٨﴾

وَلَئِن او قسم دى كه چيرته مُّتُّمۡ تاسو مړه شئ أَوۡ يا قُتِلۡتُمۡ تاسو ووژل شئ لَإِلَى ٱللَّهِ خامخا به الله تعالى ته تُحۡشَرُونَ تاسو ورټوليږئ
﴿١٥٨﴾

فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾

فَبِمَا رَحۡمَةٖ نو په سبب د رحمت مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى (اى محمد صلى الله عليه وسلم) لِنتَ ته نرم خويه جوړشوئ يې لَهُمۡۖ د دوى دپاره وَلَوۡ او كه چيرته كُنتَ ته وې فَظًّا بدخويه غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ سخت زړئ(سخت زړه والا) لَٱنفَضُّواْ خامخا به دوى خواره واره شوي وو مِنۡ حَوۡلِكَۖ ستا د خوا او شاه نه فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ نو عفوه كوه دوى ته وَٱسۡتَغۡفِرۡ او بخښنه غواړه (د الله تعالى څخه) لَهُمۡ دوى ته وَشَاوِرۡهُمۡ او مشوره كوه د دوى سره فِي ٱلۡأَمۡرِۖ په كار كې فَإِذَا نو كله چې

عَزَمۡتَ قصد وکړي(د کار د کولو) فَتَوَكَّلۡ نو توکل کوه عَلَى ٱللَّهِۚ په الله تعالی باندې إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی يُحِبُّ خوښوي ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ توکل کوونکي (په الله تعالی باندې) ﴿۱۵۹﴾

إِن يَنصُرۡكُمُ ٱللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمۡۖ وَإِن يَخۡذُلۡكُمۡ فَمَن ذَا ٱلَّذِي يَنصُرُكُم مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿۱٦۰﴾

إِن که يَنصُرۡ مرسته وکړي كُمُ ستاسو سره ٱللَّهُ الله تعالی فَلَا نو نشته غَالِبَ لَكُمۡۖ زورور په تاسو (د هيڅ چا زور درباندې نه رسيږي،لکه په بدر کې) وَإِن او که يَخۡذُلۡكُمۡ هغه جل جلاله تاسو پرېږدي(مرسته درسره ونکړي) فَمَن ذَا ٱلَّذِي نو څوک دی هغه کس يَنصُرُكُم چه کومک به وکړي ستاسو سره مِّنۢ بَعۡدِهِۦۗ وروسته د هغه(پرېښودلو د الله تعالی؟ هیڅوک نشته دی.) وَعَلَى ٱللَّهِ او په الله تعالی باندې دې فَلۡيَتَوَكَّلِ توکل وکړي ٱلۡمُؤۡمِنُونَ مؤمنان. ﴿۱٦۰﴾

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّۚ وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿۱٦۱﴾

وَمَا كَانَ او نه دي جایز لِنَبِيٍّ یو نبي ته أَن يَغُلَّۚ خیانت کول وَمَن او څوک چه يَغۡلُلۡ خیانت کوي يَأۡتِ هغه به راځي بِمَا د هغه (شي سره) غَلَّ چه هغه خیانت کړئ وي(چه هغه پټ کړئ وي) يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ د قیامت په ورځ(د حشر په میدان کې به د چا اسونه د چا اوښان،د چا موټران،د چا کورونه او بلډینګونه او داسې نور د غلا او خیانت شیان به د خائنانو په څټونو سواره وي،حیوانات به اوازونه او موټران،ټرینونه،بحري او هوايي جهازونه به هارنډونه کوي،لنډه دا چه څومره چا غټ-غټ خیانتونه کړي وي په هماغه اندازه به غټ-غټ بارونه پرې سواره وي،په دې بد حالت کې به نبي علیه السلام ته ورشي او ورته به ووايي چه مرسته او کومک راسره وکړه،هغه صلی الله علیه

وسلم به ورته وفرمايي چه ما دين پوره درسولئ وو،اوس درسره كومك نشم كولاى) ثُمَّ بيا به تُوَفَّىٰ پوره وركول كيږي كُلُّ نَفْسٍ هر چا ته مَّا (بدل د) هغه (عمل) چه هغه كړئ دى كَسَبَتْ وَهُمْ او په دوى به لَا يُظْلَمُونَ ظلم نه كيږي(چه يا به زياته ګناه پرې واچول شي او يا به كم ثواب وركول شي.) ﴿١٦١﴾

أَفَمَنِ ٱتَّبَعَ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ كَمَنۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَمَأْوَىٰهُ جَهَنَّمُۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾

أَفَمَنِ نو آيا هغه څوک ٱتَّبَعَ چه هغه پيروي كوي رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ د الله تعالى د رضاء(يعنى د الله تعالى د رضا او خوشالولو دپاره د خيانت او ګناه نه ځان ساتي او جهاد كوي،نو آيا دا كس كيدلاى شي) كَمَنۢ په شان د هغه كس بَآءَ چه هغه اخته وي بِسَخَطٍ په غضب باندې مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى(ځكه چه هر كار داسي كوي چه د الله تعالى غضب پرې حاصلوي او جنګ د شيطان په لار كې كوي)، وَمَأْوَىٰهُ او ځاى د اوسيدلو د هغه(كس) جَهَنَّمُۖ جهنم دى وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ او هغه(جهنم) بد ځاى د ورتللو دى. ﴿١٦٢﴾

هُمْ دَرَجَٰتٌ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾

هُمْ د هغوى (د خلكو) دَرَجَٰتٌ درجې دي عِندَ ٱللَّهِۗ د الله تعالى سره(د الله تعالى سره د خلكو بيلي-بيلي درجې دي،د چا اوچتي درجې او د چا ډېرې ټيټي درجې) وَٱللَّهُ او الله تعالى بَصِيرُۢ ليدونكئ دى بِمَا په هغو (اعمالو) يَعْمَلُونَ چه دوى يې كوي. ﴿١٦٣﴾

لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾

لَقَدۡ بیشکه مَنَّ ٱللَّهُ الله تعالی احسان کړئ دی عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ په مؤمنانو باندې إِذۡ کله چه بَعَثَ هغه جل جلاله راولیږلو فِيهِمۡ په دوی کې رَسُولٗا یو پیغمبر مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ د دوی د جنس څخه يَتۡلُواْ چه هغه صلی الله علیه وسلم لولي عَلَيۡهِمۡ په دوی باندې ءَايَٰتِهِۦ آیاتونه د هغه جل جلاله وَيُزَكِّيهِمۡ او هغه صلی الله علیه وسلم پاکوي هغوی(په توحید سره د ګناه او شرک څیني) وَيُعَلِّمُهُمُ او دوی ته تعلیم ورکوي ٱلۡكِتَٰبَ د کتاب(قرآنکریم) وَٱلۡحِكۡمَةَ او د حکمت(سنت) وَإِن که څه هم كَانُواْ وو دوی مِن قَبۡلُ مخکې د (نبي علیه السلام د راتللو څخه) لَفِي خامخا په ضَلَٰلٖ ګمراهۍ مُّبِينٍ ښکاره کې. ﴿١٦٤﴾

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَدۡ أَصَبۡتُم مِّثۡلَيۡهَا قُلۡتُمۡ أَنَّىٰ هَٰذَاۖ قُلۡ هُوَ مِنۡ عِندِ أَنفُسِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿١٦٥﴾

أَوَلَمَّآ او کله چه: أَصَٰبَتۡكُم تاسو ته دروړسیدلو(د اُحد په غزا کې داسې) مُّصِيبَةٞ یو مصیبت قَدۡ (چه) بیشکه أَصَبۡتُم تاسو ورسولئ وو(د بدر په غزا کې د مکې مشرکانو ته) مِّثۡلَيۡهَا د هغې دوه چنده (مصیبت ،یعنی مشرکانو په اُحد کې ستاسو ٧٠ کسان شهیدان کړل خو تاسو په بدر کې د هغوی ٧٠ کسان ووژل او ٧٠ موبندیان کړي وو،نو کله چه په تاسو دا مصیبت راغئ نو:) قُلۡتُمۡ تاسو وویل (چه): أَنَّىٰ د کوم (طرف نه) هَٰذَاۖ دا (مصیبت په مونږ راغئ) قُلۡ (ورته) ووایه (ای پیغمبر صلی الله علیه وسلم) هُوَ دغه(مصیبت په تاسو) مِنۡ عِندِ د طرف نه أَنفُسِكُمۡۗ د خپلو ځانونو(په تاسو راغئ،یا د خپله لاسه په تاسو راغئ،په دې سبب چه غشو ویشتونکو په خپل سر د امیر د اجازې څخه پرته مُرچې پریښودې

او د غنيمت د مالونو په تولولو بوخت شو) إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٞ قادر دى. ﴿١٦٥﴾

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِ فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَلِيَعۡلَمَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعۡلَمَ
ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا
لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي
قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ﴿١٦٧﴾

وَمَآ أَصَٰبَكُمۡ او هغه (مصيبت) چه ورسيدلو تاسو ته(په أُحد كې اى مؤمنانو) يَوۡمَ په هغې ورځ ٱلۡتَقَى چه مخامخ شو ٱلۡجَمۡعَانِ دوه فوځونه فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ نو(دا مصيبت تاسو ته) د الله تعالى په حكم (سره دروورسيدو) وَ او(تاسو ته د دې مصيبت رسيدل) لِيَعۡلَمَ د دې دپاره(وو) چه هغه جل جلاله ښكاره كړي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنان ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعۡلَمَ او(بل) د دې دپاره چه هغه جل جلاله ښكاره كړي ٱلَّذِينَ هغه خلك نَافَقُواْ چه هغوى منافقان دي(د أُحد د غزا په ورځ منافقان بيرته د لارې نه مديني منورې ته وګرځيدل) وَقِيلَ او وويل شو لَهُمۡ هغوى ته(د صحابه كرامو رضى الله عنهم پواسطه چه:) تَعَالَوۡاْ راشئ قَٰتِلُواْ جنګ وكړئ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالى په لار كې أَوِ يا (كه د الله تعالى په لار كې جنګ نه كوئ او مسلمانان نه يئ نو: ٱدۡفَعُواْۖ دفاع وكړئ(د مديني منورې او خپلو دوستانو نه يعنى د خپل وطن نه دفاع وكړئ) قَالُواْ هغوى (منافقانو د مسخرو په قسم) وويل لَوۡ كه چيرته نَعۡلَمُ مونږ پوهيدلو قِتَالٗا په جنګ لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ خامخا به مونږ ستاسو پيروي كړې وه(حتماً به مونږ ستاسو خبره منلې وه) هُمۡ لِلۡكُفۡرِ دغه(منافقان) كفر ته يَوۡمَئِذٍ په دې ورځ أَقۡرَبُ (ډېر)نيزدې شو مِنۡهُمۡ د هغوى (د نيزدې كيدلو په نسبت) لِلۡإِيمَٰنِۚ ايمان ته (يعنى د أُحد د غزا په ورځ هغوى د ايمان په نسبت كفر ته ډېرنيزدې شو،او دغه منافقان:)

يَقُولُونَ دوی وايې(دوی کوي) بِأَفۡوَٰهِهِم په خولو باندې مَّا
هغه(خبرې) لَيۡسَ چه نه وي هغه(خبرې) فِي قُلُوبِهِمۡۚ د دوی په زړونو
کې وَٱللَّهُ او الله تعالی أَعۡلَمُ پوهيږي بِمَا په هغو(خبرو) يَكۡتُمُونَ
چه:دوی يې (په زړونو کې) پټوي. ﴿١٦٧﴾

ٱلَّذِينَ قَالُواْ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ وَقَعَدُواْ لَوۡ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُواْۗ قُلۡ فَٱدۡرَءُواْ عَنۡ أَنفُسِكُمُ
ٱلۡمَوۡتَ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٦٨﴾

ٱلَّذِينَ (دا منافقان) هغه خلک دي قَالُواْ (چه) دوی وايي لِإِخۡوَٰنِهِمۡ د
خپلو(نسبي مؤمنانو) ورونو په باره کې وَقَعَدُواْ او (پخپله خو په
کورونو کې) ناست وو لَوۡ که چيرته أَطَاعُونَا هغوی زمونږ خبره
منلې وه (او زمونږ سره بيرته راغلي وو،او اُحد ته نه وو تللی،نو) مَا
قُتِلُواْۗ وژل شوي به نه وو قُلۡ ته (ورته) ووايه فَٱدۡرَءُواْ نو تاسو دفع
کړئ(منع کړئ) عَنۡ أَنفُسِكُمُ د خپلو ځانونو څخه ٱلۡمَوۡتَ مرګ إِن
كُنتُمۡ که تاسو ياستئ صَٰدِقِينَ رښتيني. ﴿١٦٨﴾

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتَۢاۚ بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ
﴿١٦٩﴾

وَلَا تَحۡسَبَنَّ او ګمان مه کوه ٱلَّذِينَ په هغو خلکو قُتِلُواْ چه وژل شوي
دي فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې أَمۡوَٰتَۢاۚ د مړو (د عامو مړو په
شان) بَلۡ بلکه أَحۡيَآءٌ ژوندي دي عِندَ رَبِّهِمۡ د خپل رب سره
يُرۡزَقُونَ هغوی ته رزق ورکول کيږي.(روحونه يې د شنو مرغانو په
ججورو کې په جنت کې ګرځي،او د جنت ميوې خوري) ﴿١٦٩﴾

فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَيَسۡتَبۡشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمۡ يَلۡحَقُواْ بِهِم مِّنۡ
خَلۡفِهِمۡ أَلَّا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ﴿١٧٠﴾

فَرِحِينَ خوشاله دي بِمَآ په هغو (نعمتونو) ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ چه دوی ته الله تعالی ورکړي دي مِن فَضۡلِهِۦ د خپل فضل نه وَيَسۡتَبۡشِرُونَ او خوشالیږي بِٱلَّذِينَ د هغو(مؤمنانو)په باره کې لَمۡ يَلۡحَقُواْ بِهِم چې (تر اوسه )د دوی سره نه دي یوځای شوي مِّنۡ خَلۡفِهِمۡ وروسته د دوی نه(په دنیا کې ژوندي دي،نو دوی د دې ژوندیو مؤمنانو په باره کې خوشالي کوي،چه دا ژوندي مؤمنان چه کله راشي نو دوی به هم لکه مونږ ) أَلَّا خَوۡفٌ نه به ویره وي عَلَيۡهِمۡ په هغوی باندې وَلَا هُمۡ او نه به هغوی يَحۡزَنُونَ غمجن کیږي ﴿١٧٠﴾

۞ يَسۡتَبۡشِرُونَ بِنِعۡمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٧١﴾

۞ يَسۡتَبۡشِرُونَ خوشالیږي هغوی(شهیدان) بِنِعۡمَةٍ په نعمت سره مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی وَفَضۡلٍ او په فضل سره(د الله تعالی) وَأَنَّ ٱللَّهَ او بیشکه چه الله تعالی لَا يُضِيعُ نه ضایع کوي(نه بربادوي) أَجۡرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ اجر د مؤمنانو. ﴿١٧١﴾

په دې آیاتونو باندې د بنه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ډیر ضرور دي.

کله چه ابوسفیان د مشرکانو لښکر ته د اُحد څخه د مکې شریفې په طرف د تللو قومنده ورکړه،یو ناڅاپه په لار کې فکر ورغئ چه:دا مونږ څه وکړل،زخمي مسلمانان مو پریښودل نه مو سوچه ختم کړل،نه مو ترې د غنیمت مال راوړو او نه مو ترې ښځې راوستلې،نو غونډه او فیصله یې وکړه چه:بیرته ورځو او بیا پرې حمله کوو،دلته په مدینه منوره کې محمد صلی الله علیه وسلم د اُحد د غزا په سبا اعلان وکړو چه: «هغه مجاهدین

چه پرون په اُحد کې جنګیدلي دي،نن دې بیا د دښمن تعقیبولو ته تیار شي » مجاهدین سره د دې چه:ستړي او ستومانه وو او د زخمونو څخه يې ويني بهيدلې،د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم دې دعوت ته يې لبيک وويلو او پيغمبر صلی الله علیه وسلم د غازيانو د لښکر سره تقريباً اته(مَيله) د مدينې منورې څخه لرې د مشرکانو د لښکر پسې لاړل،هلته چه:ابوسفيان خبر شو چه نبي عليه او د غازيانو لښکر زمونږ. پسې راوتلئ دی او غازيان ډېر په غصه دي،يو ناڅاپه د مشرکانو زړونو باندې ويره راغله او د مکې شريفې خواته په تيښته او منډو-منډو روان شول(پاتي دې نه وي چه د مشرکانو په دې لښکر کې د اسلام هغه لوی سپه سالار چه په اسلام کې د مرګ پورې نه د چا څخه ويريدلئ وو او نه د چا څخه تښتديدلئ «خالد بن وليد او عکرمه بن ابو جهل هم شامل وو» د مشر کانو لښکر د ابوسوفيان په مشرئ د مکې شريفې خواته په منډو-منډو روان وو،او د محمد صلی الله علیه وسلم او د غازيانو ويره او رعب يې په زړونو داسې ورننوتي وو،چه دومره وارخطا وو چه د (عبدالقيس) د تجارتي قافلې په ليدلو سره چه مدينې منورې ته روانه وه،ابوسفيان او نور مشران سمدستي قافلې ته ورغلل او د قافلې خلکو ته يې رشوتونه ورکړل چه:تاسو په مدينه منوره کې داسې اوازه خوره کړئ چه د هغې په اوريدو سره مسلمانان زمونږ. څخه وويريږي.نو کله چه قافله مدينې منورې ته ورسيدله ، نو د قافلې خلکو اوازه خوره کړه چه د مکې مشرکانو بيا ډېر لوی لښکر او سازو سامان د مسلمانانو د ختمولو دپاره تيار کړئ دی.د دې اوازې په اوريدلو سره په ځای د دې چه مسلمانان وويريږي او بې زړه شي،بلکه اسلامي او ايماني جوش او جذبه يې راوپاريدله او ويې ويل چه:«حسبنااللهُ و نعم الوکيلُ» او د محمد صلی الله علیه وسلم په رهبرئ او قومانده د مشرکانو د لښکر د تعقيبولو پسې ووتل.

ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾

ٱلَّذِينَ هغه خلک ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ چه هغوی د الله تعالی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حکم ومنلو (چه د پیغمبر علیه السلام اعلان ته یې لبیک وویلو او ځانونه یې د مشرکانو د لښکر تعقیبولو ته تیار کړو) مِنۢ بَعۡدِ مَآ وروسته د دې ښخه أَصَابَهُمُ چه هغوی ته ورسیدلئ وو ٱلۡقَرۡحُ زخم(تکلیف او مشقت په اُحد کې، مګر د زخمونو او ستومانتیا سره-سره د نبي علیه السلام سره د مشرکانو د لښکر پسې ووتل) لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره أَحۡسَنُواْ چه ښایسته عمل یې کړئ دی مِنۡهُمۡ د دوی ښخه وَٱتَّقَوۡاْ او پرهیزګاري یې کړې ده أَجۡرٌ عَظِيمٌ ډېر لوی اجر دی(جنت دی). ﴿١٧٢﴾ ٱلَّذِينَ (دوی) هغه خلک دی قَالَ (چه) وویلي لَهُمُ دوی ته ٱلنَّاسُ خلکو(د قافلې کومو ته چه مشرکانو رشوت ورکړئ وو،چه:) إِنَّ ٱلنَّاسَ بیشک خلکو(د مکې) قَدۡ یقیناً جَمَعُواْ راجمع کړئ دی لَكُمۡ ستاسو (د جنګ) دپاره(لوی لښکر) فَٱخۡشَوۡهُمۡ نو تاسو د هغوی نه وویرېږئ (نو مسلمانانو چه دا خبرې واوریدلې نه وویریدل او نه بې زړه شول،بلکه اسلامي او ایماني جذبات یې راوپاریدل) فَزَادَهُمۡ نو زیات(او قوی)شو إِيمَٰنٗا ایمان د دوی(یعنی د دې خبر په اوریدو سره یې ایمانونه نور هم قوی شو او د مخکې ښخه ډېر زړور شو) وَقَالُواْ او دوی وویلي حَسۡبُنَا کافي دی مونږ ته(بس دی مونږ ته) ٱللَّهُ الله تعالی وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ او(الله تعالی) ښه کارساز دی. ﴿١٧٣﴾

فَٱنقَلَبُواْ بِنِعۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضۡلٖ لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ سُوٓءٞ وَٱتَّبَعُواْ رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾

فَٱنقَلَبُواْ نو بيرته راوګرځيدل(مؤمنان) بِنِعۡمَةٖ په نعمت سره مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى وَفَضۡلٖ او په فضل(سره د الله تعالى) لَّمۡ يَمۡسَسۡهُمۡ (چه) ونه رسيدو دوی ته سُوٓءٞ هيڅ تکليف وَٱتَّبَعُواْ او او پيروي يې وکړه رِضۡوَٰنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالى د رضا وَٱللَّهُ او الله تعالى ذُو فَضۡلٍ عَظِيمٍ خاوند د لوی فضل دی. ﴿١٧٤﴾

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

إِنَّمَا بيشکه ذَٰلِكُمُ دا(سړی چه د مکې د خلکو د قوت اوازه ئې خوره کړي وه) ٱلشَّيۡطَٰنُ شيطان دی(انسي شيطان) يُخَوِّفُ (چه) هغه ويروي تاسو(ای مؤمنانو) أَوۡلِيَآءَهُۥ د خپلو دوستانو نه(کافرانو نه) فَلَا تَخَافُوهُمۡ نو تاسو د هغوی نه مه ويرېږئ وَخَافُونِ او ځما نه وويرېږئ إِن كُنتُم که ياستئ تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمنان. ﴿١٧٥﴾

وَلَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِۚ إِنَّهُمۡ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۗ يُرِيدُ ٱللَّهُ أَلَّا يَجۡعَلَ لَهُمۡ حَظّٗا فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾

وَلَا يَحۡزُنكَ او غمجن دې نکړي تا ٱلَّذِينَ هغه کسان (د هغو خلکو په کارونو مه غمجن کيږه) يُسَٰرِعُونَ چه هغوی منډې وهي(کوشش کوي) فِي ٱلۡكُفۡرِۚ په کفر کې(د کفر په کارونو کې) إِنَّهُمۡ بيشکه هغوی لَن يَضُرُّواْ هيڅ ضرر نشي رسولای ٱللَّهَ الله تعالى ته شَيۡـٔٗاۗ (د) هيڅ شي(بلکه خپلو ځانونو ته ضرر رسوي) يُرِيدُ ٱللَّهُ الله تعالى غواړي أَلَّا يَجۡعَلَ چه جوړه نکړي لَهُمۡ د دوی دپاره حَظّٗا هيڅ برخه فِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ په آخرت کې وَلَهُمۡ او د دوی دپاره عَذَابٌ عَظِيمٌ لوی عذاب دی ﴿١٧٦﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ لَن يَضُرُّواْ ٱللَّهَ شَيۡـٔٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٧٧﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشكه هغه خلک ٱشۡتَرَوُاْ چه هغوی اخستئ دی ٱلۡكُفۡرَ كفر
بِٱلۡإِيمَٰنِ په بدل د ايمان كې لَن يَضُرُّواْ دوی هيڅكله ضرر نشي
رسولای ٱللَّهَ الله تعالی ته شَيۡـٔٗاۗ (د)هيڅ شی وَلَهُمۡ او د دوی دپاره
عَذَابٌ أَلِيمٞ دردناكه عذاب دی. ﴿١٧٧﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ خَيۡرٞ لِّأَنفُسِهِمۡۚ إِنَّمَا نُمۡلِي لَهُمۡ لِيَزۡدَادُوٓاْ
إِثۡمٗاۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٧٨﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ او ګُمان دې نكوي ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوٓاْ چه هغوی
كافران دي أَنَّمَا دا چه نُمۡلِي مونږ مهلت وركوو لَهُمۡ هغوی ته
(داسې ګُمان دې نه كوي چه ګنې دا زمونږ مهلت وركول) خَيۡرٞ بهتر
دي(خير دی) لِّأَنفُسِهِمۡۚ د هغوی د ځانونو دپاره(داسې نه ده، بلكه) إِنَّمَا
بيشكه نُمۡلِي مونږ مهلت وركوو لَهُمۡ دوی ته(كافرانو ته) لِيَزۡدَادُوٓاْ
د دې دپاره چه دوی زياته كړي إِثۡمٗاۖ ګناه وَلَهُمۡ او د دوی دپاره
عَذَابٞ مُّهِينٞ سپكوونكئ عذاب دی. ﴿١٧٨﴾

مَّا كَانَ ٱللَّهُ لِيَذَرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَىٰ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ حَتَّىٰ يَمِيزَ ٱلۡخَبِيثَ مِنَ ٱلطَّيِّبِۗ
وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُۖ
فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۚ وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَلَكُمۡ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿١٧٩﴾

مَّا كَانَ ٱللَّهُ الله تعالی داسې نه دی لِيَذَرَ چې پرېږدي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ مؤمنان
عَلَىٰ مَآ په هغه (حال)باندې أَنتُمۡ عَلَيۡهِ چې تاسو ياستئ په هغه (حال ای
خلكو، يعنی مؤمنان او منافقان سره ګډوډ ياستئ) حَتَّىٰ تر څو چې
يَمِيزَ هغه جل جلاله جدا كړي ٱلۡخَبِيثَ ناپاكه(منافقان) مِنَ ٱلطَّيِّبِۗ د
پاكو نه(د مؤمنانو نه) وَمَا كَانَ ٱللَّهُ او الله تعالی داسې نه دی لِيُطۡلِعَكُمۡ
چې خبر كړي تاسو عَلَى ٱلۡغَيۡبِ په غيبو باندې وَلَٰكِنَّ او ليكن (د دې
كار دپاره) ٱللَّهَ الله تعالی يَجۡتَبِي انتخابوي مِن رُّسُلِهِۦ د پيغمبرانو

خپلو څخه مَن يَشَآءُۖ څوک چې هغه جل جلاله وغواړي فَـَٔامِنُواْ نو تاسو ايمان راوړئ بِٱللَّهِ په الله تعالى باندې وَرُسُلِهِۦۚ او د هغه جل جلاله په پيغمبرانو باندې وَإِن تُؤۡمِنُواْ او كه تاسو ايمان راوړئ وَتَتَّقُواْ او پرهيزګاره شئ فَلَكُمۡ نو ستاسو دپاره أَجۡرٌ عَظِيمٞ لوى اجر دى. ﴿١٧٩﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبۡخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ هُوَ خَيۡرٗا لَّهُمۖ بَلۡ هُوَ شَرّٞ لَّهُمۡۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِۦ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿١٨٠﴾

وَلَا يَحۡسَبَنَّ او ګمان دې نه كوي ٱلَّذِينَ هغه خلک يَبۡخَلُونَ چې بخيلي كوي بِمَآ په هغه څه باندې(په هغه مال باندې) ءَاتَىٰهُمُ چې وركړي دي هغوى ته ٱللَّهُ الله تعالى مِن فَضۡلِهِۦ د خپل فضل څخه (نو دا بخيلان خلک دې داسې ګمان نه كوي چې ګڼي) هُوَ دا (بخيلي كول) خَيۡرٗا بهتر دي لَّهُمۖ د هغوى دپاره بَلۡ هُوَ بلكه دا(بخيلي كول) شَرّٞ شر دى(بد دى) لَّهُمۡۖ د دوى دپاره سَيُطَوَّقُونَ زر به په غاړه كې واچول شي دوى ته مَا هغه شى(هغه مال) بَخِلُواْ چې دوى بُخل كړئ دى بِهِۦ په هغې باندې يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ د قيامت په ورځ(يعنى په كوم مال كې چې دوى بخل كړئ دى،د دې مال څخه به د قيامت په ورځ طوق جوړ شي او بخيلانو ته به په غاړه كې واچول شي) وَلِلَّهِ او خاص الله تعالى ته مِيرَٰثُ ميراث ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ د آسمانونو او د ځمكې دى وَٱللَّهُ او الله تعالى بِمَا په هغو (اعمالو) تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې كوئ خَبِيرٞ خبر دى. ﴿١٨٠﴾

لَّقَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٞ وَنَحۡنُ أَغۡنِيَآءُۘ سَنَكۡتُبُ مَا قَالُواْ وَقَتۡلَهُمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَنَقُولُ ذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿١٨١﴾

کله چې د سورة البقره دا آیت نازل شو« مَّن ذَا ٱلَّذِي يُقۡرِضُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضۡعَافًا كَثِيرَةٗۚ وَٱللَّهُ يَقۡبِضُ وَيَبۡصُۜطُ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾»

نو يهوديانو وويلي چې نعوذبالله الله تعالى غريب شوئ دى او مونږ غنيان(يعنې مالداره يو) نو ځکه زمونږ څخه قرض غواړي.نو دا مبارک آيت نازل شو.

لَّقَدۡ بيشکه سَمِعَ واوريد له ٱللَّهُ الله تعالى قَوۡلَ خبره ٱلَّذِينَ د هغو (خلکو) قَالُوٓاْ چې هغوى وويلي إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالى فَقِيرٞ فقير دى(محتاج دى) وَنَحۡنُ او مونږ أَغۡنِيَآءُۘ غنيان يو(او مونږ مالدار يو) سَنَكۡتُبُ زر به مونږ وليکو مَا هغه(خبره) قَالُواْ چې دوى ويلي ده(چې دوى کړې ده) وَقَتۡلَهُمُ او قتلول د دوى ٱلۡأَنۢبِيَآءَ د پيغمبرانو بِغَيۡرِ حَقّٖ په ناحقه باندې (دا مونږ هم ليکلي دي) وَنَقُولُ او وبه وايو مونږ دوى ته ذُوقُواْ وڅکئ عَذَابَ عذاب ٱلۡحَرِيقِ د سوځيدونکي اور. ﴿١٨١﴾

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾

ذَٰلِكَ دا عذاب بِمَا په سبب د هغه(عمل )دى قَدَّمَتۡ چې مخکې ليږلئ دى أَيۡدِيكُمۡ لاسونو ستاسو وَأَنَّ او بيشکه چې ٱللَّهَ الله تعالى لَيۡسَ نه دى بِظَلَّامٖ ظلم کوونکئ لِّلۡعَبِيدِ په بندګانو (باندې)﴿١٨٢﴾

ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ عَهِدَ إِلَيۡنَآ أَلَّا نُؤۡمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأۡتِيَنَا بِقُرۡبَانٖ تَأۡكُلُهُ ٱلنَّارُۗ قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِي بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَبِٱلَّذِي قُلۡتُمۡ فَلِمَ قَتَلۡتُمُوهُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٨٣﴾

يهوديانو پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته وويل چي مونږ ته په تورات كي
الله تعالى حكم كړئ دى چي مونږ به هيڅوک د پيغمبر په حيث نه
منو،مګر هغه څوک به پيغمبر منو چي مونږ ته داسي قرباني راوړي چي
د آسمانه اور راشي او دا قرباني وخوري.

ٱلَّذِينَ هغه خلک قَالُوٓاْ چي وايي إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى عَهِدَ إِلَيۡنَآ
مونږ ته حكم كړئ دى أَلَّا نُؤۡمِنَ چي مونږ به ايمان نه راوړو لِرَسُولٍ
په هيڅ پيغمبر حَتَّىٰ تر هغي پورې يَأۡتِيَنَا چي راوړي مونږ ته
بِقُرۡبَانٍ (داسي) قرباني تَأۡكُلُهُ چي وخوري هغه(قرباني) ٱلنَّارُۗ اور(يعنى
د آسمانه اور راشي او هغه د قربانۍ شى وخوري) قُلۡ ( اى محمد صلى
الله عليه وسلم دوى ته) ووايه قَدۡ بيشكه جَآءَكُمۡ راغلي وو تاسو ته
رُسُلٞ (ډېر)پيغمبران مِّن قَبۡلِي څما څخه مخكي بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه
معجزو سره وَبِٱلَّذِي او د هغي(معجزې) سره قُلۡتُمۡ چي تاسو ويلي
وو(د هغي په باره كي يعنى د قربانۍ معجزه) فَلِمَ نو بيا ولي قَتَلۡتُمُوهُمۡ
تاسو ووژل هغوى إِن كُنتُمۡ كه تاسو ياستئ صَٰدِقِينَ رښتيني.(يعنى
تاسو ته خو داسي رسولان راغلي وو چي پرته د نورو معجزو څخه دا د
قربانۍ معجزه ئي هم دربنودلي وه نو بيا ولي تاسو هغه ووژل او ايمان
مو پري رانوړو،نو دا ستاسو بهاني جوړول دي د ايمان نه راوړلو
دپاره.) ﴿١٨٣﴾

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقَدۡ كُذِّبَ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِكَ جَآءُو بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِ وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ
﴿١٨٤﴾

فَإِن نو كه كَذَّبُوكَ تا دروغجن وګڼي فَقَدۡ نو بيشكه كُذِّبَ دروغجن
ګڼل شوي دي رُسُلٞ ډېر پيغمبران مِّن قَبۡلِكَ ستا څخه د مخه جَآءُو
چي راغلي وو هغوى بِٱلۡبَيِّنَٰتِ د روښانه معجزو سره وَٱلزُّبُرِ او د

صحيفو( سره) وَٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُنِيرِ او د روښانه کتاب سره.(نو ته صبر کوه او خفه کيږه مه) ﴿١٨٤﴾

كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَۗ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَٰعُ ٱلۡغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ ۞

كُلُّ نَفۡسٖ هر نفس(هر څوک) ذَآئِقَةُ څکوونکئ ٱلۡمَوۡتِۗ د مرګ(د خوند)دی وَإِنَّمَا او بيشکه تُوَفَّوۡنَ پوره به درکول شي تاسو ته أُجُورَكُمۡ اجرونه ستاسو يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ د قيامت په ورځ فَمَن نو څوک زُحۡزِحَ چې هغه بچ کړئ شو عَنِ ٱلنَّارِ (دجهنم) د اور نه وَأُدۡخِلَ او داخل کړئ شو ٱلۡجَنَّةَ جنت ته فَقَدۡ نو بيشکه فَازَۗ هغه کامياب شو وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ او نه دی ژوند ٱلدُّنۡيَآ د دنيا إِلَّا مګر مَتَٰعُ سامان ٱلۡغُرُورِ د غوليدلو(دی) ﴿١٨٥﴾ ۞

لَتُبۡلَوُنَّ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذٗى كَثِيرٗاۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ﴿١٨٦﴾

لَتُبۡلَوُنَّ خامخا به تاسو امتحان کيږئ فِيٓ أَمۡوَٰلِكُمۡ ستاسو په مالونو کې وَأَنفُسِكُمۡ او ستاسو په ځانونو کې(يعنى په تاسو باندې به حتماً مالي او ځاني امتحانونه راځي) وَلَتَسۡمَعُنَّ او خامخا به تاسو اورئ مِنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو څخه أُوتُواْ چې ورکول شوئ دی هغوی ته ٱلۡكِتَٰبَ کتاب مِن قَبۡلِكُمۡ د ستاسو څخه مخکې(يعنى يهود او نصاراوو ته چې ستاسو څخه د مخه تورات او انجيل ورکول شوئ دی) وَمِنَ ٱلَّذِينَ او د هغو خلکو څخه (به هم واورئ) أَشۡرَكُوٓاْ چې هغوی مشرکان دي أَذٗى كَثِيرٗاۚ ډېرې ځورونکې خبرې وَإِن او که تَصۡبِرُواْ تاسو صبر کوئ

وَتَتَّقُواْ اوتقوا كوئ فَإِنَّ نو بيشكه ذَٰلِكَ دا(صبر او تقوا) مِنۡ عَزۡمِ د همت ٱلۡأُمُورِ د كارونو (ښخه دي). ﴿١٨٦﴾

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ وَٱشۡتَرَوۡاْ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلاًۖ فَبِئۡسَ مَا يَشۡتَرُونَ ﴿١٨٧﴾

وَإِذۡ او كله (چې) أَخَذَ واخستله ٱللَّهُ الله تعالى مِيثَٰقَ وعده ٱلَّذِينَ د هغو(خلكو)ښخه أُوتُواْ چې هغوى ته وركول شوئ دى ٱلۡكِتَٰبَ كتاب لَتُبَيِّنُنَّهُۥ چې خامخا به تاسو بيانوئ دا(كتاب) لِلنَّاسِ انسانانو ته وَلَا تَكۡتُمُونَهُۥ او تاسو به نه پټوئ هغه(په تورات او انجيل كې د يهودو او نصاراوو ښخه وعده اخستل شوي وه چې په خپلو كتابونو كې به د محمد صلى الله عليه وسلم صفتونه او پيشګويې د خلكو ښخه نه پټوئ او هر چا ته به يې بيانوئ) فَنَبَذُوهُ نو هغوى(كتابيانو) وغوزوله هغه وَرَآءَ وروسته ظُهُورِهِمۡ د شاه ګانو د هغوى(يعنى دا وعده يې شاته واچوله،او په ځاى د دې چې د محمد صلى الله عليه وسلم پشګويې او صفتونه د الله تعالى بندګانو ته ورسوي چې ايمان پرې راوړي،برعكس د نبي عليه السلام صفتونه او زيري يې د خلكو ښخه پټ كړل) وَٱشۡتَرَوۡاْ او دوى واخستلو بِهِۦ په دې(پټولو د نبي عليه السلام د صفتونو) سره ثَمَنًا قيمت قَلِيلاًۖ لږ (يعنى دا جرم دوى د پيسو او د دنيا د لاس ته راوړلو په مقابل كې وكړو،او سره د پوهې يې خپل ايمانونه خرڅ كړل) فَبِئۡسَ نو (ډېر) بد دى مَا هغه(شى) يَشۡتَرُونَ چې دوى يې اخلي(د حق د پټولو په مقابل كې). ﴿١٨٧﴾

لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أَتَواْ وَّيُحِبُّونَ أَن يُحۡمَدُواْ بِمَا لَمۡ يَفۡعَلُواْ فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٖ مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١٨٨﴾

لَا تَحۡسَبَنَّ ته ګُمان مکوه ٱلَّذِينَ په هغو(خلکو) يَفۡرَحُونَ چې هغوى خوشالېږى بِمَآ په هغه (کارونو)باندې أَتَواْ چې هغوى کړي دي وَّيُحِبُّونَ او خوښوي أَن يُحۡمَدُواْ چې وستايل شي(چې صفت ئې وشي بِمَا په هغه(کارونو)باندې لَمۡ يَفۡعَلُواْ چې هغوى نه وي کړي(يعنى سخي نه وي خو غواړي چې خلک ورته سخي ووايې،جهاد ئې نه وي کړې خو غواړي چې خلک ورته مجاهد او غازي ووايې،تولـه ورځ ظلمونه کوي،د خلکو حقونه پخپله هم خوري او د پيسو او رشوت په مقابل کې د يو حق بل ته هم ورکوي خو غواړي چې د عادل او منصف په نوم په خلکو کې مشهور او ياد شي فَلَا تَحۡسَبَنَّهُم نو ته ګُمان مه کوه په دوى بِمَفَازَةٖ په خلاصيدلو مِّنَ ٱلۡعَذَابِۖ د غذاب نه(چې د الله تعالى د عذاب نه به خلاص شي) وَلَهُمۡ او د دوى دپاره عَذَابٌ أَلِيمٞ دردونکې عذاب دى. ﴿۱۸۸﴾

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ﴿۱۸۹﴾

وَلِلَّهِ او خاص الله تعالى لره دى مُلۡكُ سلطنت ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِۗ او د ځمکې وَٱللَّهُ او الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دى ﴿۱۸۹﴾

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿۱۹۰﴾

إِنَّ بيشکه فِي خَلۡقِ په پيداکولو کې ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمکې وَٱخۡتِلَٰفِ او په اختلاف ٱلَّيۡلِ د شپې وَٱلنَّهَارِ او د ورځ کې لَأٓيَٰتٖ يقيناً نښې دي(د الله تعالى د قدرت) لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ د عقلونو د خاوندانو دپاره. ﴿۱۹۰﴾

ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلٗا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾

ٱلَّذِينَ (دغه د عقلونو خاوندان) هغه خلک دي يَذۡكُرُونَ چې يادوي ٱللَّهَ الله تعالى قِيَٰمٗا په ولاړه وَقُعُودٗا او په ناسته وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ او په خپلو اړخونو باندې وَيَتَفَكَّرُونَ او دوى فکر کوي فِي خَلۡقِ په پيداکيدلو کې ٱلسَّمَٰوَٰتِ د آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمکې (او دوى وايي) رَبَّنَا اى زمونږ ربه مَا خَلَقۡتَ تا نه دي پيدا کړي هَٰذَا دا(کائنات) بَٰطِلٗا عبث(بې فايدې) سُبۡحَٰنَكَ ته پاک ئې فَقِنَا نو وساته مونږ عَذَابَ ٱلنَّارِ د عذاب د اور نه ﴿١٩١﴾

رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ ﴿١٩٢﴾

رَبَّنَآ اى زمونږ ربه إِنَّكَ بيشکه ته مَن تُدۡخِلِ چې څوک داخل کړې ٱلنَّارَ اور ته فَقَدۡ نو يقيناً أَخۡزَيۡتَهُۥۖ تا رسوا(او ذليل)کړو هغه وَمَا او نشته لِلظَّٰلِمِينَ ظالمانو ته مِنۡ أَنصَارٖ (هيڅوک) د کومک کوونکو څخه(چې د اور څخه ئې وباسي يا ئې په عذاب کې څه کموالئ راولي) ﴿١٩٢﴾

رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ﴿١٩٣﴾

رَّبَّنَآ اى زمونږ ربه إِنَّنَا بيشکه مونږ سَمِعۡنَا واوريده مونږ(غږ) مُنَادِيٗا د يو اواز کوونکي(يعنى قرآنکريم او محمد صلى الله عليه وسلم) يُنَادِي چې بلل ئې (دعوت ئې ورکولو خلکو ته) لِلۡإِيمَٰنِ ايمان ته (او داسې ئې ويل) أَنۡ ءَامِنُواْ چې تاسو ايمان راوړئ بِرَبِّكُمۡ په خپل رب باندې فَـَٔامَنَّاۚ نو مونږ ايمان راوړلو رَبَّنَا اى زمونږ ربه فَٱغۡفِرۡ نو ته وبښه لَنَا مونږ ته ذُنُوبَنَا گناهونه زمونږ وَكَفِّرۡ او ورژوه(او

لري كړه) عَنَّا زمونږ نه سَيِّـَٔاتِنَا گناهونه زمونږ وَتَوَفَّنَا او وفات كړه مونږ مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ د نيكانو سره. ﴿١٩٣﴾

رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ﴿١٩٤﴾

رَبَّنَا اى زمونږ ربه وَءَاتِنَا او راكړه مونږ ته مَا هغه(څه) وَعَدتَّنَا چې تا وعده كړي ده زمونږ سره عَلَىٰ رُسُلِكَ (په ژبو) د خپلو پيغمبرانو عليهم السلام وَلَا تُخۡزِنَا او مونږ مه رسوا كوه(او مونږ مه ذليله كوه) يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ د قيامت په ورځ إِنَّكَ بيشكه ته(اى زمونږ ربه) لَا تُخۡلِفُ مخالفت نه كوي ٱلۡمِيعَادَ د وعدې(خپلې) نه. ﴿١٩٤﴾

فَٱسۡتَجَابَ لَهُمۡ رَبُّهُمۡ أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۖ فَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَٰتَلُواْ وَقُتِلُواْ لَأُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ثَوَابٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾

ام سلمة رضى الله عنها پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته عرض وكړ چې:«يا رسول الله صلى الله عليه وسلم په قرآنكريم كې هيچيرې زمونږ د ښځو د هجرت او نورو حسنه اعمالو په نسبت كوم خاص ذكر نه دى راغلئ» نو دا مبارک آيات نازل شو! تفسير ابن عباس رضى الله عنهما

فَٱسۡتَجَابَ نو قبوله كړه لَهُمۡ د هغوى (دعا او درخواست) رَبُّهُمۡ د هغوى رب(جل جلاله) أَنِّي (وئې فرمايل) بيشكه زه لَآ أُضِيعُ نه ضايع كوم عَمَلَ عمل عَٰمِلٖ د يو عمل كوونكي مِّنكُم د ستاسو نه مِّن ذَكَرٍ د نارينه أَوۡ يا أُنثَىٰۖ د ښځې(يعنى كه نر وى او كه ښځه عمل ئې نه ضايع كوم،ځكه چې:) بَعۡضُكُم بعضي ستاسو مِّنۢ بَعۡضٖۖ د بعضو نه دي(تاسو يو د بل د جنس نه ياستئ تفسير ابن عباس رضى الله عنهما) فَٱلَّذِينَ نو

هغه خلک هَاجَرُواْ چې هغوی هجرت کړئ دی وَأُخۡرِجُواْ او هغوی
ويستل شوي دي مِن دِيَٰرِهِمۡ د خپلو کورونو څخه وَأُوذُواْ او دوی ته
ضرر رسول شوئ دی فِي سَبِيلِي ځما په لار کې وَقَٰتَلُواْ او دوی
جنګونه کړي دي(د کفارو سره) وَقُتِلُواْ او وژل شوي دي دوی(په جهاد
کې) لَأُكَفِّرَنَّ خامخا به زه لري کړم عَنۡهُمۡ د دوی نه سَيِّـَٔاتِهِمۡ
ګناهونه د دوی وَلَأُدۡخِلَنَّهُمۡ او خامخا به زه داخل کړم دوی جَنَّٰتٖ
جنتونو ته تَجۡرِي (چې) بهيږي مِن تَحۡتِهَا د هغې(جنتونو)لاندې
ٱلۡأَنۡهَٰرُ ويالې(نهرونه) ثَوَابٗا (دا) بدل دی (د دوی دپاره) مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ
د الله تعالی د طرف نه وَٱللَّهُ او الله تعالی(چې دی) عِندَهُۥ د هغه جل
جلاله سره حُسۡنُ ٱلثَّوَابِ ښه بدل دی (د داسې خلکو دپاره) ﴿١٩٥﴾

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿١٩٦﴾

لَا يَغُرَّنَّكَ ودې نه غولوي تا(دوکه دې نه کړي تا) تَقَلُّبُ ګرځيدل
راګرځيدل ٱلَّذِينَ د هغو خلکو كَفَرُواْ چې هغوی کافران دي فِي ٱلۡبِلَٰدِ
په ښارونو کې(يعنی د هغو خلکو چې کافران دي د دوی په ليدلو ونه
غوليږئ چې په ښارونو او ملکونو کې د پيسو د ګټلو دپاره ګرځې
راګرځې،تجارتونه کوي،کاروبار،کورونه،موټر او نوکران لري،داسې
فکر ونکړئ چې دوی خوشاله او په ډېر سهولت کې دي،دا هر څه مؤقتې
دي،ډېر زر تيريږي،خو د انجام په حساب ستاسو دپاره جنت او د هغوی
دپاره جهنم دی،تاسو دا فکر مه کوئ چې دې بې ايمانه مالدارانو مزې
وکړي، داسې بالکل نه ده،مزې صرف مؤمين مسلمانانو وکړي ځکه که
دولت او مال هم نه لري خو سکون ورسره وي، که په تيره سر کيږدي
بيا هم خوب ورځې، مګر دا بې ايمانه دولتمند اکثره دوی د ډيپريشن او
تشويش په مرض اخته وي او په پستو بسترو کې هم پرته د ټابليټونو د
خوړلو او ډېرګز د استعمال څخه خوب نه ورځې) ﴿١٩٦﴾

مَتَٰعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

مَتَٰعٌ قَلِيلٌ (دا مال اودولت دوی ته ډېره) لږه فایده ده (دا هر څه به ډېر زر تیر شي) ثُمَّ بیا مَأۡوَىٰهُمۡ د اوسیدلو ځای د دوی جَهَنَّمُۖ جهنم دی وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ او(جهنم) ډېر بد استوګنځی دی. ﴿١٩٧﴾

لَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ رَبَّهُمۡ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا نُزُلٗا مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لِّلۡأَبۡرَارِ ﴿١٩٨﴾

لَٰكِنِ لیکن ٱلَّذِينَ هغه خلک ٱتَّقَوۡاْ چې وویریدل رَبَّهُمۡ د خپل رب نه لَهُمۡ د دوی دپاره جَنَّٰتٞ جنتونه دي تَجۡرِي چې بهیږي مِن تَحۡتِهَا لاندې د هغې(جنتونو څخه) ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه (ویالې) خَٰلِدِينَ دوی به همیشه وي فِيهَا په دې (جنتونو)کې نُزُلٗا (دا)میلمستیا ده مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِۗ د الله تعالی د طرف نه وَمَا او هغه(څه) عِندَ ٱللَّهِ چې د الله تعالی سره دي خَيۡرٞ بهتر دي لِّلۡأَبۡرَارِ د نیکانو دپاره ﴿١٩٨﴾

وَإِنَّ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَمَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُمۡ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِمۡ خَٰشِعِينَ لِلَّهِ لَا يَشۡتَرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٩٩﴾

وَإِنَّ او بیشکه مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ځینې د اهل کتابو څخه لَمَن یقیناً هغه خوک دي يُؤۡمِنُ چې ایمان راوړي بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَمَآ او په هغه (قرآنکریم) باندې أُنزِلَ چې نازل شوئ دی إِلَيۡكُمۡ تاسوته (ای مسلمانانو) وَمَآ او په هغو(کتابونو یعنی تورات او انجیل باندې) أُنزِلَ چې نازل شوي دي إِلَيۡهِمۡ هغوی ته خَٰشِعِينَ عاجزي کوونکي دي لِلَّهِ الله تعالی ته لَا يَشۡتَرُونَ نه اخلي دوی بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې ثَمَنٗا قیمت قَلِيلًاۚ لږ أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک(چې دي) لَهُمۡ د دوی دپاره أَجۡرُهُمۡ اجر د دوی عِندَ رَبِّهِمۡۗ د هغوی د رب(جل جلاله)

سره دی إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ډېر زر حساب کوونکئ دی. ﴿١٩٩﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱصۡبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٢٠٠﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ای هغو خلکو چې ایمان ئې راوړئ دی(ای مؤمنانو) ٱصۡبِرُواْ تاسو صبر کوئ وَصَابِرُواْ او ټینګ اوسئ!په صبر (د کفارو په مقابل کې) وَرَابِطُواْ او محکم اوسئ (په اسلامي سرحداتو کې) وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ او وویریږئ د الله تعالی نه لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ د دې دپاره چې تاسو کامیاب شئ. ﴿٢٠٠﴾

ډاکتر محمد عثمان نظامی

////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

# سورة النسآء

دا مدني سورت دی، (۱۷۶)آیاتونه او (۲۴)رکوع لرې،په تلاوت کې ځلورم او په نزول کې (۹۲) سورت دی،او د« الممتحنة » د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی.

## بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ﴿١﴾

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ای انسانانو ٱتَّقُواْ تاسو وويريږئ رَبَّكُمُ د خپل رب څخه ٱلَّذِي هغه (رب) خَلَقَكُم چې هغه جل جلاله تاسو پيدا کړي یاستئ مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ د يو شخص (آدم عليه السلام) څخه وَخَلَقَ او (اول) هغه جل جلاله پيدا کړه مِنۡهَا د هغه څخه (د آدم عليه السلام څخه) زَوۡجَهَا د هغه ښځه ( حواء عليها السلام) وَبَثَّ او خواره ئې کړل (په ځمکه کې) مِنۡهُمَا د دې دواړو (آدم عليه السلام او حواء عليهاالسلام)څخه رِجَالٗا سړي كَثِيرٗا ډېر وَنِسَآءٗۚ او ښځې (ډېرې) وَٱتَّقُواْ او وويريږئ ٱللَّهَ د الله تعالی څخه ٱلَّذِي هغه (الله تعالی) تَسَآءَلُونَ چې تاسو سوال کوئ (يو د بل نه،يا خپل حقونه غواړئ يو د بل نه) بِهِۦ په(نوم د) هغه جل جلاله سره وَٱلۡأَرۡحَامَۚ او (وويريږئ د پريکولو) د خپلوی څخه إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا په تاسو باندې نګران(ساتونکئ) دی(چې هر څه کوئ الله تعالی مو ګوري نو

هر څه چې کوئ په دې یقین سره ئې کوئ چې الله تعالی ته ښکارو،دا هر څه ریکارډ کیږي او خامخا ئې پوښتنه او حساب راسره کیږي. ﴿۱﴾

تفسیر

یعنی الله تعالی انسان د اول څخه انسان پیدا کړی دی،او د اول انسان آدم علیه السلام څخه ئې(د غیري زوجي تکثر پواسطه) د هغه ښځه حواء علیها السلام پیدا کړه،او د آدم او حوآء علیهماالسلام څخه ئې د زوجي تکثر پواسطه نور انسانان ښځې او نران پیدا کړل،او د همدې زوجي تکثر پواسطه نسل مخکې ځي او زیاتیږي.یعنی انسان نه د یوې حجرې یا بکټریا د ارتقا پواسط منځ ته راغلئ دی او نه د شادي د نسل څخه دی،لکه ملحدینو چې د انسان د پیدا کیدلو پسې کومه خیالي قیصه جوړه کړي ده چې: اول په ختو کې یوه حجره یا بکټریا پیدا شوه او بیا د رتقاء پواسطه د دې حجرې څخه ماهیان جوړ شو،ماهیان د اوبو څخه وچې ته راووتل ریپټآیل یعنی شمشتی،کروکوډایل،څرموښکی،کربوړي او غیره ترې جوړ شول(فکر وکړئ چې ماهیان پرته د اوبو څخه ژوندې پاتې کیږي خو په هر ترتیب نوره قیصه داسې ده چې:)بیا دې شیانو لاسونه خوځول شروع کړل ،په لاسونو یې ښکي راوختلي،وزرونه ترې جوړ شو او په مرغانو بدل شو،یو وخت په ځمکه باندې واښه خلاص شو،نو ووزو کوشش کولو چې د ونو پاڼې وخوري،نو اورمیږونه یې اوږده شو او داوزو څخه زرافي جوړي شوي،او بلآخره د شادي د ارتقاء څخه انسان جوړ شو،یعنی د داروین پیروان انسانان د شادې ارتقایې شکل ګڼي او بیا دې خیالي او بې ثبوته قصې ته ساینس وایې.لیکن د قرآنکریم دا مبارک آیت د داروین د پیروانو او ملحدینو په دې خیالي قصه باندې رد کوي.یعنی انسان د اول نه الله تعالی انسان پیداکړئ وو او د هغه څخه ئې

د هغه جوړه یا ښځه او بیا د دوی دواړو څخه یې د انسانانو نسل په دنیا کې خور کړو.

وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ﴿٢﴾

وَءَاتُواْ او (ای د یتیمانو ولیانو) تاسو ورکړئ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ یتیمانو ته أَمۡوَٰلَهُمۡۖ د هغوی مالونه(کله چې ځوانان شي او د مال د اخستلو قابل شي) وَلَا تَتَبَدَّلُواْ او مه بدلوئ ٱلۡخَبِيثَ ناپاکه بِٱلطَّيِّبِۖ په پاک باندې(یعنی د یتیمانو ښه مالونه د خپلو خرابو مالونو سره مه بدلوئ،ځکه چې:د یتیمانو مالونه تاسو ته حرام او ناپاکه دي،او ستاسو خپل مالونه تاسو ته حلال او پاک دي،نو که د یتیم مال ستاسو د مال څخه قیمتي او ښه وي او هغه د خپل خراب او کم قیمته مال سره بدل کړئ،نو په حقیقت کې تاسې خپل حلال او پاک مال اګر چې ارزښت به ئې کم وي د یتیم د مال سره چې ستاسو دپاره حرام او ناپاکه دی بدلوئ اګر چې قیمت او ارزښت به یې زیات وي وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ او مه خورئ أَمۡوَٰلَهُمۡ د هغوی مالونه إِلَىٰٓ أَمۡوَٰلِكُمۡۚ د خپلو مالونو سره(یعنی چې د یتیم مال د خپل مال سره ګډ کړئ او په دې چل د یتیم مال وخورئ،یعنی ولي ته د ګډولو اجازه شته خو مال ته به ئې نقصان نه رسوي البته که ولي غریب وي نو دا بیله خبره ده چې د عرف او رواج سره سم په جایز او روا ډول د یتیم د ساتنې په مقابل کې د هغه مال وخوري. ) إِنَّهُۥ بیشکه دغه(د یتیم مال خوړل) كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا لویه ګناه ده. ﴿٢﴾

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَلَّا تَعُولُواْ ﴿٣﴾

د جاهلیت په زمانه کې به هغه یتیماني جنکیاني چې ښایسته به هم وي او مالداري به هم وي نو ولیانو به ورسره واده کولو،اوهغه چې ښایسته به نه وي او مالدارې به وي نو ولي د دي دپاره چې مال ئې د لاسه ونه وځې نو د مال دپاره به ئې ورسره واده کولو،خو د زړه مینه به ئې ورسره نه وه

وَإِنۡ او که خِفۡتُمۡ تاسو ویریږئ أَلَّا تُقۡسِطُواْ چې عدالت به ونه شئ کولای فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ د یتیمانو (جنکیانو په حق)کې (چې نه به د زړه څخه ورسره مینه وکړئ او نه به ئې نور حقوق سم ورکړئ) فَٱنكِحُواْ نو(بیا) نکاح وکړئ مَا هغو(ښځو سره) طَابَ چې خوښې وي لَكُم تاسو ته مِّنَ ٱلنِّسَآءِ د ښځو نه(یعنی د یتیمانو جینکیانو سره چې د زړه نه مو خوښې نه وي صرف د مال دپاره واده مه کوئ چې د واده نه وروسته بیا ورته د ښځې په سترګه نه ګورې نو دا ظلم مه کوئ،او د هغو ښځو سره واده وکړئ چې ستاسو خوښې وي،تر څو راتلونکی عمر مو سره خوشاله تیر شي.) مَثۡنَىٰ دوه-دوه وَثُلَٰثَ او درې-درې وَرُبَٰعَ او څلور-څلور(یعنی دنورو ښځو سره د یوې نه تر څلورو پورې دشریعت مطابق نکاح کولای شئ) فَإِنۡ او که چیرته خِفۡتُمۡ تاسو ویریږئ(د دې خبرې نه) أَلَّا تَعۡدِلُواْ چې عدالت(او انصاف) به ونه کولای شئ(د یوې نه په زیاتو ښځو کې) فَوَٰحِدَةً نو(صرف) یوه (ښځه نکاح کولای شئ یعنی د عدالت او انصاف نه کولو په صورت کې په اسلام کې د یوې نه د زیاتو ښځو کولو اجازه قطعاً نشته دی،او که څوک د یوې څخه زیاتې ښځې وکړي او د شریعت مطابق عدالت او انصاف ونکړي نو د قبر څخه به داسې راجګیږي چې نیم وجود به ئې فلج وي،فکر وکړئ د حشر میدان ته به داسې روان وي چې په یوه پښه به توپونه وهي،د خولې نه به ئې لاړې بهیږي،یوه خوا سترګه او خوله به ئې کږه وي،لاس به ئې ځنګیږي،کله چې د حشر میدان ته ورسیږي په همدې

فلج ځان به -۵۰۰۰۰-کلونه د حشر د میدان په ګرمه ځمکه باندې ټوپونه وهي او ګرځې به،نو که په دې عذاب سره د ګناه څخه پاک شي خو ښه،او که پاک نشي نو د پاتې ګناه د پاکولو او عذاب ورکولو دپاره به ئې جهنم ته لیږي.الله تعالی دې مونږ او تاسو وساتي امین ) أَوۡ مَا مَلَكَتۡ یا هغه(وینځې)چې مالکان دي أَيۡمَٰنُكُمۡ ښي لاسونه ستاسو(د هغوی، یعنی هغه وینځې چې تاسو د هغوی ملکان یاستئ ستاسو دپاره کافي دي.باید ووایو چې:د قرآن د نازلیدو نه مخکې او د قرآنکریم د نازلیدو په وخت کې یعنی د جهالت په زمانه او د کفر په تیارو کې په ټوله دنیا کې د غلامۍ دوران وو،انسانانو به د الله تعالی د بندګانو نه د نرانو څخه غلامان او د ښځو څخه به ئې وینځې جوړولي ،د حیواناتو پشان سلوک به یې ورسره کولو،د عامو انسانانو په شان حقونه ئې نه ورکول.خو اسلام په تدریجي ډول دا بد او خراب رواج د جامعې څخه ختم کړو،غلامانو او وینځو ته یې حقونه ورکړل،او خلک ئې د هغوی ازادولو ته تلقین او تشویق کړل،او د ډیرو ګناهونومعاف کیدل یې د غلام او وینځې د ازادولو په بدل کې اعلان کړل،تر څو چې دا بد کار په ټولنه کې ختم شي) ذَٰلِكَ دا(د یوې ښځې سره نکاح کول یا په وینځو باندې اکتفاء کول) أَدۡنَىٰٓ نیزدې دي دې ته أَلَّا تَعُولُواْ چې ظلم ونکړئ(او یو طرف ته متمائل نشئ) ﴿٣﴾

وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ﴿٤﴾

وَءَاتُواْ او ورکوئ ٱلنِّسَآءَ ښځو ته صَدُقَٰتِهِنَّ د هغوی مهرونه نِحۡلَةٗ په خوشحالئ (ځکه مهر د ښځو حق دی،د واده په وخت کې ئې مقررول واجب دي او حتماً به ئې ورکوئ.) فَإِن نو که چیرته طِبۡنَ هغوی پریږدي لَكُمۡ تاسوته عَن شَيۡءٖ د څه شي نه مِّنۡهُ د هغه نه(د

مهر نه) نَفۡسٗا په خپله خوښه(یعنی مهر واجب دی،خو که ښځې په خپله خوښه او خوشحالۍ سره یو څه شی د مهر څخه تاسو ته وبخي) فَكُلُوهُ نو تاسو خورئ هغه هَنِيٓـٔٗا خوندور(مزه دار) مَّرِيٓـٔٗا بې ضرره ﴿٤﴾

وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ﴿٥﴾

وَلَا تُؤۡتُواْ او تاسو مه ورکوئ ٱلسُّفَهَآءَ کم عقلو ته أَمۡوَٰلَكُمُ مالونه خپل ٱلَّتِي هغه (مالونه) جَعَلَ ٱللَّهُ چې الله تعالی ګرزولي دي لَكُمۡ تاسو ته قِيَٰمٗا سبب د ګذاران(او ژوند کولو) وَٱرۡزُقُوهُمۡ او دوی ته خوراک ورکوئ فِيهَا په دې(مالونو)کې وَٱكۡسُوهُمۡ او جامې ورته ورکوئ وَقُولُواْ او وایئ لَهُمۡ دوی ته قَوۡلٗا خبره مَّعۡرُوفٗا نیکه(خوږه،پسته معقوله) ﴿٥﴾

یعنی هغه یتیمان چې مالونه یې ستاسو په تصرف کې دي خو کم عقل دي ،او یا ستاسو اولادونه چې کم عقل او واړه وي،نو تاسو به د دوی مصارف کوئ یعنی ډودی او جامې به ورکوئ،ښایسته خبرې به ورته کوئ چې دا هر څه ستاسو دي،خو مال به تر هغې پورې ورته نه تسلیموئ تر څو چې په دوی کې د ګټې او تاوان او د مال د حفاظت تمیز ونه ګورئ.

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ﴿٦﴾

وَٱبۡتَلُواْ او(ای د یتیمانو ولیانو) تاسو امتحانوئ ٱلۡيَتَٰمَىٰ یتیمان حَتَّىٰٓ د هغې پورې إِذَا کله چې بَلَغُواْ هغوی ورسیږي ٱلنِّكَاحَ د

نکاح(عمر ته یعنی هلک زلمی او جینۍ پیغله شي) فَإِنۡ نو که چیرته ءَانَسۡتُم تاسو درک کړئ مِّنۡهُمۡ د هغوی رُشۡدٗا هوښیارتیا(او قابلیت په ګټه،تاوان او د مال په ساتلو کې) فَٱدۡفَعُوٓاْ نو ورکړئ (وسپارئ) إِلَيۡهِمۡ هغوی ته أَمۡوَٰلَهُمۡۖ مالونه د هغوی وَلَا تَأۡكُلُوهَآ او مه خورئ دغه(د یتیمانو مالونه إِسۡرَافٗا په اسراف سره(بې ضرورته) وَبِدَارًا او زر-زر أَن يَكۡبَرُواْۚ (د دې ویرې نه) چې هغوی به غټ شي(او زمونږ نه به خپل مال واخلي) وَمَن او څوک چې كَانَ غَنِيّٗا غني وي(مالدار وي) فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ نو ځان دې وساتي(د یتیم د مال نه) وَمَن او څوک چې كَانَ فَقِيرٗا غریب وي(او احتیاج وي) فَلۡيَأۡكُلۡ نو د(یتم د مال نه دې خوري) بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ په ښایسته طریقې سره(د دستور او رواج سره سم به د یتم د خدمت په مقابل کې د هغه د مال نه یو څه خوري) فَإِذَا بیا کله چې دَفَعۡتُمۡ تاسو ورکوئ إِلَيۡهِمۡ هغوی ته (یتیمانو ته) أَمۡوَٰلَهُمۡ د هغوی مالونه فَأَشۡهِدُواْ نو شاهدان ونیسئ عَلَيۡهِمۡۚ په هغوی باندې وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ او الله تعالی کافي دی حَسِيبٗا حساب کوونکئ . ﴿٦﴾

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنۡهُ أَوۡ كَثُرَۚ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿٧﴾

د قرآنکریم د نزول نه مخکې کافرانو ښځو او وړو هلکانو ته په میراث کې حق نه ورکولو،مګر اسلام نارینه او ښځو ته که واړه وي او که لوی دواړو ته ئې په میراث کې حق ورکړو.

لِّلرِّجَالِ سړیو ته(لوی وي که واړه) نَصِيبٞ برخه ده مِّمَّا د هغه مال نه (د میراث په هغه مال کې) تَرَكَ چې پریښئ وي ٱلۡوَٰلِدَانِ مور او پلار وَٱلۡأَقۡرَبُونَ او خپلوانو وَلِلنِّسَآءِ او ښځو ته(هم لویې وي او که ورې) نَصِيبٞ برخه ده مِّمَّا د هغه مال نه(د میراث په هغه مال کې

) تَرَكَ چې پرېښې وي ٱلۡوَٰلِدَانِ مور او پلار وَٱلۡأَقۡرَبُونَ او خپلوانو مِمَّا د هغه مال نه قَلَّ چې لږ وي مِنۡهُ د هغې نه أَوۡ یا كَثُرَۚ ډېر وي نَصِيبٗا برخه مَّفۡرُوضٗا ټاكل شوي ده(د الله تعالی د طرف نه د نر دپاره هم، او د ښځې دپاره هم.خو افسوس چې مونږ كې اوس هم په اكثرو خلكو كې دا د جاهليت د زماني رواج پاتې دی،ښځو ته په ميراث كې حق نه وركول كيږي،پخپله هم ټول عمر حرام خوري او په اولادونو هم .ځكه چې د پردې مال خوړل حرام دي،او اكثرو خلكو ته د نيكونو نه هم حرام مال پاتې وي ځكه چې هغوی هم د خويندو او ميندو مال نه وي وركړې،پخپله يې هم حرام خوړلي وي او په اولادونو هم،او حرام مال يې اولادونو ته هم پرېښې وی،او اولادونه يكې نور حرام هم وركړې كړي ځكه چې خويندو او ميندو ته يكې د ميراث حق نه وركوي او حرام داسې خوري لكه حلال،او بيا دعوه د جنت هم كوي،او د اولادونو نه ګيلې هم كوي چې خبره مې نه منې او احترام او عزت مې نه كوي،فكر وكړئ چې تاسو ټول عمر په اولاد څه خوړلي دي حرام كه حلال؟نور قضاوته او فيصله په خپله وكړه چې د جنت مستحق يې او كه د دوزخ؟ دا خو لا د دنيا عذاب دی . خو دا خوش فهمي هم د سرونو نه وباسئ چې پيغمبر صلی الله عليه و سلم به مې شفاعت وكړي،او جنت ته به لاړ شو، په دايې حال كې چې د هغه صلی الله عليه وسلم په راوړې پيغام قرآنكريم او د هغه عليه السلام په سنتو او صحې احايثو عمل نكوئ، خو طمعه د شفاعت لرئ،ښه دې ستركې وغړوه،هغه صلی الله عليه وسلم به د داسې په قرآن او سنتو باندې د بې عمله مسلمانانو شفاعت الله تعال ته نكوي بلكې د قيامت په ورځ به د داسې امتيانو نه الله تعالی ته شكايت كوي.قرآنكريم د الفرقان په ۳۰ آيت كې فرمايې: وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ مَهۡجُورٗا ﴿٣٠﴾ ای ځما ربه:بيشكه ځما قوم دا قرآن پرېښې وو.) ﴿٧﴾

وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُوْلُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾

وَإِذَا او كله چې حَضَرَ حاضر شي ٱلْقِسْمَةَ (د ميراث د مال تقسيمولو ته أُوْلُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ خپلوان وَٱلْيَتَٰمَىٰ او يتيمان وَٱلْمَسَٰكِينُ او مسكينان فَٱرْزُقُوهُم نو خوراک ورکوئ هغوی ته مِّنْهُ د هغې(مال)نه وَقُولُوا۟ او وايئ لَهُمْ هغوی ته قَوْلًا مَّعْرُوفًا نيکې خبرې ﴿٨﴾

يعنى كه د ميراث د تقسيمدو په خت کې داسې خپلوان ،يتمان او مسکينان هم راشي چې د ميراث په مال کې يې حق نه وي خو بيا هم يو څه طمعه لري نو بد سلوک ورسره مه کوئ،د ميراث د مال څخه يو څه د خوراک دپاره ورکړئ او په پسته او خوږه لهجه ورته ووايئ چې:سره د دې چې ستاسو د ميراث په مال کې حق نشته خو بيا هم دا يو څه مونږ د صدقې په ډول درکوو،دا واخلئ او خفه کيږئ مه.نو کيدای شي چې خفه هم نشي او مړي ته دعا هم وکړي.

وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا۟ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُوا۟ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾

وَلْيَخْشَ او ودې ويريږي ٱلَّذِينَ هغه خلک(چې د يتيمانو پالنه کوي،د يتيمانو سره دې داسې سلوک کوي کوم سلوک چې دوی د خپلو بچيو دپاره غواړي.فرضاً) لَوْ که چيرته تَرَكُوا۟ دوی پريږدي مِنْ خَلْفِهِمْ د دوی (د مرګ نه) وروسته ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا کمزوري اولادونه خَافُوا۟ (څومره به) دوی ويريږي عَلَيْهِمْ په هغوی باندې(څومره به دوی د خپلو کمزورو اولادونو په باره کې په تشويش کې وي چې:څوک ورباندې ظلم ونکړي،څوک ئې حق ونه خوري او څوک ورته بدې خبرې ونکړي،) فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ نو دوی دې د الله تعالى څخه وويريږي(يعنى کوم

سلوک چې دوی د مرګ نه وروسته د خپلو اولادونو سره د خلکو څخه غواړي،نو اوس چې دوی پخپله د يتيمانو وليان او پالونکي دي نو همداسې سلوک دې دوی هم د يتيانو سره وکړي،ځکه دوی هم د چا بچيان وو،او د دوی پلار به هم د دوی غوندې فکر او تشويش کولو) وَلۡيَقُولُواْ (نو نه دې په يتيمانو ظلم کوي،نه دې د هغو حق خوري او نه دې ورسره چل ول کوي) او وايې دې دوی(او کوي دې دوی يتيمانو ته) قَوۡلٗا سَدِيدًا رښتيا (پستې او خوږې)خبرې ﴿٩﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ﴿١٠﴾

إِنَّ بيشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَأۡكُلُونَ چې خوري أَمۡوَٰلَ مالونه ٱلۡيَتَٰمَىٰ د يتيمانو ظُلۡمًا په ظلم إِنَّمَا بيشکه يَأۡكُلُونَ هغوی خوري (بيشکه هغوی اچوي) فِي بُطُونِهِمۡ په خپلو خيټو کې نَارٗاۖ اور وَسَيَصۡلَوۡنَ او زر به داخل شي دوی سَعِيرٗا ګرم اور ته ﴿١٠﴾

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿١١﴾

يُوصِيكُمُ تاسو ته حکم کوي ٱللَّهُ الله تعالی فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ ستاسو د اولاونو(د ميراث د حق په باره)کې لِلذَّكَرِ د سړي دپاره(د ميراث په مال کې برخه) مِثۡلُ په شان د حَظِّ برخې د ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ دوه ښځو

ده(مثلاً د مړي يو ځوی او يوه لور ده او درې لکه افغانۍ ترې پاتې شوي
دي،نو دوه لکه د ځوی او يو لک د لور رسيږي) فَإِن او که چيرته
كُنَّ نِسَآءٗ (د مړي ځوی نه وي او اولاد ئې صرف لورګاني يعنی پوازې
سوچه) ښځې وي فَوۡقَ (او) زياتې وي ٱثۡنَتَيۡنِ د دوه (ښځو يعنی
لورګانو نه ) فَلَهُنَّ نو د هغوی دپاره ثُلُثَا دوه پر درې (يعنی د درې
برخو څخه دوه برخې) مَا د هغه(مال څخه دي) تَرَكَۖ چې(مړي)
پريښئ دی.(د دوه لورګانو يعنی ښځو دپاره هم همدا حکم دی.مثلاً د مړي
ځوی نشته دوه يا درې يا زياتې لورګاني ئې دي او درې لکه افغانۍ ترې
پاتې شوي دی،نو دا درې لکه افغانۍ به درې برخې شي دوه برخې يعنی
دوه لکه افغانۍ به يې ټولې لورګاني واخلي او په خپلو منځونو کې به يې
سره تقسيم کړي،او يوه برخه يعنی يولک افغانۍ به د مړي نوره ورثه
اخلي،يعنی لورګاني د پلار ټول مال نشي اخستلاي صرف د ټول مال د
درې برخو څخه دوه برخې اخستلای شي خو که تعداد يې دوه يا د دوه
څخه زيات وي،او پاتې يوه برخه به وارثان اخلي لکه کاکا،ماما...... )
وَإِن او که چيرته(د مړي) كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ يوه(لور) وه فَلَهَا نو د هغې
دپاره (د پلار څخه په پاتې شوي مال کې) ٱلنِّصۡفُۚ نيمه (حصه يا
برخه)ده (مثلاً د مړي يوه لور ده او دوه لکه افغانۍ ترې پاتې شوي
دي،نو دا ټولې پيسې لور نشي اخستلای بلکه د دې نيمايې يا يولک افغانۍ
د لور برخه ده او نيمايې يا يولک افغانۍ د نورې ورثې برخه ده)
وَلِأَبَوَيۡهِ او د( مړي) د مور او پلار دپاره لِكُلِّ وَٰحِدٖ د هر يو دپاره
مِّنۡهُمَا د دې دواړو څخه ٱلسُّدُسُ شپږمه(برخه ده) مِمَّا د هغه(مال
څخه) تَرَكَ چې مړي پريښئ دی(بايد واضح شي چې: داسې نه ده
چې مور او پلار به په شريکه شپږمه برخه اخلي بلکه د هر يو جدا-جدا
شپږمه برخه ده ) إِن (په دې شرط) که چيرته كَانَ وي لَهُۥ د
هغه(مړي) وَلَدٞۚ بچيان(اولاد.يعنی دا قانون چې مور او پلار به د ځوی

په مال کې هر يو جدا-جدا شپږمه برخه اخلي په هغه صورت کې دی چې
مړی بچيان ولري.مثلاً که د مړی نه ماشومان او شپږ لکه افغانۍ پاتي
شي او مور او پلار ئې ژوندي وي نو دا شپږ لکه افغانۍ به شپږ برخې
شي چې هره شپږمه برخه يو لک افغانۍ کيږي،نو يو لک افغانۍ به پلار
واخلي او يو لک به د مړي مور واخلي ) فَإِن او که چيرته لَّمۡ يَكُن
نه وي لَّهُۥ د هغه(مړي) وَلَدٞ بچي وَوَرِثَهُۥٓ او ميراث اخلي د
هغه(مړي) أَبَوَاهُ (يوازې) د هغه مور او پلار فَلِأُمِّهِ نو(په دې
صورته کې) د هغه(مړي) د مور دپاره ٱلثُّلُثُۚ دريمه برخه ده(د هغه
مال څخه چې د مړي يعنی د ځوی څخه ئې پاتي شوئ دی،يعنی د مور
برخه په دې صورت کې زياتيږي مثلاً:د مړي ماشومان نشته او درې لکه
افغانۍ ترې پاتې شوي دي،او مور او پلا ئې ژوندې دي نو دريمه برخه
يعنی يولک افغانۍ به ئې مور واخلي او دوه لکه به ئې پلار واخلي.)
فَإِن او که چيرته كَانَ وي لَهُۥٓ د هغه (مړي) إِخۡوَةٞ وروڼه(د يو
څخه زيات) فَلِأُمِّهِ نو( په دې صورت کې)د هغه(مړي) د مور دپاره
ٱلسُّدُسُۚ شپږمه (برخه ده.مثلاً که شپږ لکه افغانۍ وي نو د دې شپږمه
برخه چې يولک افغانۍ کيږي د مړي مور ته ورکول کيږي.او باقي ئې
پلار ته پاتي کيږي.) مِنۢ بَعۡدِ (دا تقسيمول د ميراث د مال) وروسته د
(اداکولو) وَصِيَّةٖ د وصيت څخه يُوصِي چې وصيت کوي (مړی)
بِهَآ په هغه سره أَوۡ يا (وروسته د اداکولو) دَيۡنٍۗ د قرض (څخه
دمړي.يعنی د مړي څخه چې کوم مال پاتي شو اول د هغه نه د مړي ګور
او کفن کيږي،او د پاتې مال څخه ئې قرض خلاصيږي،او د دې نه چې
کوم مال پاتي شي د هغې د دريمې برخې پورې د مړي په وصيت کې
مصرف کيږي،او د دې ټولو مصارفو څخه وروسته چې کوم مال پاتي
کيږي هغه بيا برخې-برخې کيږي او په وارثانو تقسيميږي. ) ءَابَآؤُكُمۡ
ستاسو پلرونه وَأَبۡنَآؤُكُمۡ او ستاسو اولادونه (چې دي) لَا تَدۡرُونَ

تاسو نه پوهيږئ أَيُّهُمۡ چې د دوی څخه کوم يو أَقۡرَبُ نيزدې دی لَكُمۡ تاسو ته نَفۡعٗاۚ په فايده (رسولو کې،يعنی تاسو نه پوهيږئ چې تاسو ته د چا فايده زياته درسيږي،د پلار که د بچي؟،کيدای شي ته د بچي دپاره زيات وصيت وکړي خو فايده د پلار د دعاګانو زياته وي،او کيدای شي ته د پلار دپاره د زيات مال وصيت وکړي خو فايده د بچي د صدقاتو او خيراتونو زياته وي،نو ستاسو په ګټه او تاوان الله تعالی پوهيږي،او کومي برخې چې الله تعالی مقررې کړي دي په هغې کې مداخله نه کول بهتر دي.دا برخې ) فَرِيضَةٗ مقرر شوي دي مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالی د طرف نه إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالی كَانَ عَلِيمًا ښه عالم دی حَكِيمٗا (او)ښه حکيم دی ﴿١١﴾

وَلَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ أَزۡوَٰجُكُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٞ فَلَكُمُ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡنَۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۚ وَلَهُنَّ ٱلرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡتُمۡ إِن لَّمۡ يَكُن لَّكُمۡ وَلَدٞۚ فَإِن كَانَ لَكُمۡ وَلَدٞ فَلَهُنَّ ٱلثُّمُنُ مِمَّا تَرَكۡتُمۚ مِّنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ تُوصُونَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٖۗ وَإِن كَانَ رَجُلٞ يُورَثُ كَلَٰلَةً أَوِ ٱمۡرَأَةٞ وَلَهُۥٓ أَخٌ أَوۡ أُخۡتٞ فَلِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُۚ فَإِن كَانُوٓاْ أَكۡثَرَ مِن ذَٰلِكَ فَهُمۡ شُرَكَآءُ فِي ٱلثُّلُثِۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرّٖۚ وَصِيَّةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٞ ﴿١٢﴾

وَلَكُمۡ او ستاسو دپاره نِصۡفُ نيمايي مَا د هغه(مال)دی تَرَكَ چې پريدې يې أَزۡوَٰجُكُمۡ ستاسو ښځې(پس د مرګ نه، خو په دې شرط) إِن که چيرته لَّمۡ يَكُن نه وي لَّهُنَّ د هغوی وَلَدٞۚ اولاد فَإِن او که چيرته كَانَ وي لَهُنَّ د هغوی وَلَدٞ اولاد(نر وي که ښځه) فَلَكُمُ نو بيا ستاسو دپاره ٱلرُّبُعُ څلورمه برخه ده مِمَّا د هغه مال څخه تَرَكۡنَۚ چې هغوی(يعنی ستاسو ښځې) ئې پريږدي (پس د مرګ څخه، خو) مِنۢ بَعۡدِ وروسته(د پوره کولو) وَصِيَّةٖ د (داسې

وصيت څخه يُوصِينَ چې هغوى(يعنى ستاسو ښځو) وصيت كړې
وي بِهَآ په هغه باندې أَوۡ دَيۡنٍۚ يا (وروسته) د قرض (د وركولو
څخه كه چيرته په مړي قرض وي، نو چې كوم مال پاتي شي هغه به سره
برخې-برخې او تقسيم كړئ) وَلَهُنَّ او هغوى ته(يعنى ستاسو ښځو ته)
ٱلرُّبُعُ څلورمه برخه ده مِمَّا د هغه (مال) څخه تَرَكۡتُمۡ چې تاسو ئې
پريږدئ (پس د مرګ څخه،خو په دې شرط) إِن كه چيرته لَّمۡ يَكُن نه
وي لَّكُمۡ د ستاسو وَلَدٞۚ اولاد فَإِن او كه چيرته كَانَ وي لَكُمۡ د
ستاسو وَلَدٞ اولاد(نارينه وي كه ښځه،د همدې ښځې څخه وي كه د بلې
څخه) فَلَهُنَّ نو بيا د هغوى دپاره(يعنى ستاسو د ښځو دپاره) ٱلثُّمُنُ
اتمه برخه ده(ستاسو د مرګ نه وروسته ستاسو په مال كې) مِمَّا د
هغه(مال)څخه تَرَكۡتُمۚ چې تاسو يې پريږدئ (پس د مرګ څخه.خو)
مِّنۢ بَعۡدِ وروسته(د پوره كولو د داسې) وَصِيَّةٖ وصيت څخه تُوصُونَ
چې تاسو وصيت كړئ وي بِهَآ په هغه باندې أَوۡ يا (وروسته ) دَيۡنٖۗ
د قرض د خلاصولو څخه چې كوم مال پاتي شي نو هغه به سره برخې-
برخې او تقسيم كړئ) وَإِن او كه چيرته كَانَ وي رَجُلٞ يو
سړى يُورَثُ چې ميراث ترې وړل كيږي كَلَٰلَةً كلله(يعني چه نه
ئې مور او پلار وي او نه ئې اولاد وي) أَوِ ٱمۡرَأَةٞ يا يوه ښځه وي(چې
نه ئې پلار او مور وي او نه ئې اولاد وي) وَلَهُۥٓ او د هغه أَخٌ يو
ورور (د مور د خوا نه) أَوۡ يا أُخۡتٞ يوه خور(د مور خوانه
وي،يعنى پلرونه يې بيل وي او مور يې يوه وي) فَلِكُلِّ وَٰحِدٖ نو(په دې
صورت كې) د هر يو دپاره مِّنۡهُمَا د دوى څخه ٱلسُّدُسُۚ شپږمه
برخه ده(يعنى كه يوه خور وي هم شپږمه برخه ئې ده،او يا كه يو ورور
وي هم شپږمه برخه ئې ده،مطلب دا چې په دې ځاى كې ښځه او نر په
برخه كې يو برابر دي او يو په بل امتياز نلري) فَإِن او كه چيرته
كَانُوٓاْ وي هغوى(د مړي وروڼه يا خوركاڼي) أَكۡثَرَ زيات مِن ذَٰلِكَ

د دې نه( یعنی که د مړ سړي یا مړې ښځې د یو نه زیات ورونه یا زیاتې
خورګانې وي فَهُمۡ نو(په دې صورت کې)هغوی ټول شُرَكَآءُ
شریکان دي فِي ٱلثُّلُثِۚ په دریمه برخه کې(یعنی ټول ورونه او
خورګانې به د میراث د مال څخه دریمه برخه واخلي او بیا به دا دریمه
برخه مال په خپلو منځونو کې په یو برابر حصو تقسیم کړي مطلب دا
چې نر او ښځه به برابره-برابره برخه اخلي،مثلاً د مړي ټول لس ورونه
او خورګانې دي او درې لکه افغانۍ ترې پاتې شوي دي نو دا درې لکه
افغانۍ به درې برخې شي چې هره برخه یو لک افغانۍ کیږي نو اوس به
دا ټول ورونه او خورګانې په شریکه د ټول مال دریمه برخه یعنی یو لک
افغانۍ واخلي او په خپل منځ کې به یې سره برابر-برابر تقسیم کړي چې
هریو ته به لس زره افغانۍ ورسیږي. خو) مِنۢ بَعۡدِ وروسته د( پوره
کولو د داسې) وَصِيَّةٖ وصیت څخه يُوصَىٰ چې وصیت شوئ وي
بِهَآ په هغه باندې أَوۡ یا (وروسته د ورکولو) دَيۡنٍ د قرض نه (چې
کومې پیسې او مال پاتې شي هغه دې برخې-برخې او تقسیم شي،یعنی
اول باید د مړي ګور او کفن، د مړي د وصیت پوره کول او د مړي
قرض ورکول د میراث د مال څخه وشي او د دې نه وروسته چې کوم
مال پاتې شي هغه دې برخې او تقسیم شي.) غَيۡرَ مُضَآرّٖۚ ( په دې شان
چې ضرر رسونکئ نه وي (بل چا ته په دې وصیت سره،چې یا د دریمې
حصې د مال څخه د زیات مال وصیت وکړئ یا بل دا سې څه چې
وارثانو ته ضرر ورسیږي) وَصِيَّةٗ (دا)حکم دی مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالی
وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ ښه عالم دی حَلِيمٞ ډیر تحمل والا دی ﴿١٢﴾

تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ
خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٣﴾

تِلۡكَ دا(د يتيمانو،ميراث،وصيت او قرض په باره کې حکمونه) حُدُودُ ٱللَّهِۚ د الله تعالی حدود دي وَمَن او څوک يُطِعِ چې تابعداري کوي(حکم مني) ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د هغه جل جلاله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم يُدۡخِلۡهُ الله تعالی به داخل کړي هغه جَنَّٰتٖ جنتونو ته تَجۡرِي چې بهيږي مِن تَحۡتِهَا لاندې د هغې(جنتونو) ٱلۡأَنۡهَٰرُ نهرونه (ويالې) خَٰلِدِينَ هميشه (به وي هغه) فِيهَاۚ په دې (جنتونو) کې وَذَٰلِكَ او دا(جنتونو ته داخليدل) ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ (ډېره) لويه کاميابي ده. ﴿١٣﴾

وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ﴿١٤﴾

وَمَن او څوک چې يَعۡصِ نافرماني کوي ٱللَّهَ د الله تعالی وَرَسُولَهُۥ او د هغه جل جلاله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم وَيَتَعَدَّ او تيرئ کوي حُدُودَهُۥ د هغه جل جلاله د حدودو څخه(او تجاوز او زياتی کوي د هغه جل جلاله د حکمونو څخه) يُدۡخِلۡهُ الله تعالی به داخل کړي هغه نَارًا اور ته خَٰلِدٗا هميشه(به وي هغه) فِيهَا په هغې (اور) کې وَلَهُۥ او هغه ته عَذَابٞ مُّهِينٞ سپکوونکئ عذاب دی. ﴿١٤﴾

وَٱلَّٰتِي يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمۡ فَٱسۡتَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِنَّ أَرۡبَعَةٗ مِّنكُمۡۖ فَإِن شَهِدُواْ فَأَمۡسِكُوهُنَّ فِي ٱلۡبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلۡمَوۡتُ أَوۡ يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلٗا ﴿١٥﴾

د اسلام څخه مخکې په کفارو کې ډېره بې حيايي وه،لوڅ ګرځيدل عيب نه ګڼل کيدلو،د وينځو سره به بنکاره زنکاني کيدلې،په کورنو به جنډې لړيدلې وې چې په دې کور کې زنا کيږي،همدارنګه ښځې به دښځې او نر به د نر سره بې حيايي کوله،

وَٱلَّٰتِي او هغه (ښځې) يَأۡتِينَ ٱلۡفَٰحِشَةَ چې بد كارې كوي(زنا) مِن
نِّسَآئِكُمۡ ستاسو د ښځو څخه فَٱسۡتَشۡهِدُواْ نو تاسو شاهدان ونسئ
عَلَيۡهِنَّ په هغوی باندې أَرۡبَعَةٗ څلور مِّنكُمۡۖ د ستاسو نه(يعنى
مسلمانان) فَإِن نو كه چيرته شَهِدُواْ هغوی شاهدي ووېلي
فَأَمۡسِكُوهُنَّ نو بندي كړئ هُنَّ هغوی فِي ٱلۡبُيُوتِ په كورونو كې
حَتَّىٰ تر هغې پورې يَتَوَفَّىٰهُنَّ چې وفات كړي هغوی ٱلۡمَوۡتُ مرګ
أَوۡ يا يَجۡعَلَ جوړه كړې ٱللَّهُ الله تعالى لَهُنَّ هغوی ته سَبِيلٗا
( بله يوه)لاره.(يعنى تر هغې پورې يې په كورونو كې د بنديدو انتظام
وكړئ چې يا ورته مرګ راشي؟او يا الله تعالى بل حكم يا حكم ثاني د
دوی په باره كې راولېږي) ﴿١٥﴾

چون د اسلام نه مخكې په عربو كې كوم منظم حكومتي قانون موجود نه
وو نو د دې آيت د نزول پورې د زناكارو دپاره حدود نه وو تعين
شوي،خو په دې مبارک آيت كې يې د تعينولو وعده او خبر وركول شو
،داسې چې د حكم ثاني پورې يعنى تر څو چې الله تعالى د خپل حكمت
مطابق د زناكارو په باره كې حكم او حدود رالېږي،تر هغې پورې
زناكارې ښځې په كورونو كې بندې وساتئ،لكه چې يو څه موده وروسته
د سورت النور په دوهم آيت كې د دورو او رجم حكم نازل شو.(يعنى د
داسې خلكو دپاره چې نه يې حكومت پيژندلو او نه يې قانون پيژندلو او
نه يې زنا كوم جرم ګڼلو او نه يې د دې دپاره كوم حدود لرل نو د داسې
خلكو دپاره يو ناڅاپه د رجم او دورو د قانون يا حدودو قبلول دومره آسان
ئې حكمت وې،نو اول ئې نه وو.نو الله تعالى حكيم دی ،په هر كار كې
د زناكارو ښځو په كور كې د بندولو حكم وفرمايه تر څو چې تولنه پاكه
شي،څكه چې بدكارې ښځې په كور كې بندې شي نارينه به بدكارې څنګه
وكړي؟ نو چې مسلمانانو په اسلام كې وخت تير كړو،او د حدودو قبلولو
ته اماده شو نو الله تعالى د دورو او رجم حكم نازل كړو.)

وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾

وَٱلَّذَانِ او هغه دوه سړي يَأۡتِيَٰنِهَا چې هغوی کوي دا(بد کار) مِنكُمۡ د ستاسو څينې فَـَٔاذُو نو تکليف ورکړئ هُمَاۖ هغوی دواړو ته( يعنی ويې وهئ،بد رد ورته ووايئ،څومره چې د هغوی د زجر او عبرت دپاره مناسب وي) فَإِن نو که چيرته تَابَا دواړه توبه وباسي وَأَصۡلَحَا او دواړه خپل ځانونه اصلاح کړي فَأَعۡرِضُواْ نو تاسو مخ واړوئ عَنۡهُمَآۗ د دواړو نه(دواړه پرېږدئ) إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالی كَانَ دی تَوَّابًا ښه توبه قبلوونکئ رَّحِيمًا (او) ډېر مهربان. ﴿١٦﴾ «معارف القرآن»

إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧

إِنَّمَا بيشکه ٱلتَّوۡبَةُ توبه (قبليدل) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره دي(الله تعالی د هغو خلکو توبه قبلوي) يَعۡمَلُونَ چې کوي دوی ٱلسُّوٓءَ ګناه بِجَهَٰلَةٖ په ناپوهی سره ثُمَّ بيا يَتُوبُونَ توبه وباسي دوی مِن قَرِيبٖ نيزدې(د مرګ نه مخکې)

فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک(چې دي) يَتُوبُ رجوع په رحت کوي ٱللَّهُ الله تعالی عَلَيۡهِمۡۗ په دوی باندې وَكَانَ او دی ٱللَّهُ الله تعالی عَلِيمًا ښه پوه حَكِيمٗا د حکمت خاوند (17)

وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٨

وَلَيْسَتِ او نشته ٱلتَّوْبَةُ توبه (قبليدل) لِلَّذِينَ د هغو(خلكو) دپاره يَعْمَلُونَ چي كوي هغوی ٱلسَّيِّـَٔاتِ ګناهونه حَتَّىٰٓ د هغې پورې إِذَا چې كله حَضَرَ راشي أَحَدَهُمُ يو د هغوی ته ٱلْمَوْتُ مرګ(نو د ځنکدن په وخت كې چي كله د مرګ فريشتې وګورې نو بيا) قَالَ وايې إِنِّى چې بيشكه زه تُبْتُ توبه وباسم ٱلْـَٔـٰنَ اوس(نو كله چې د مرګ فرشتې ښكاره شي نوره نو توبه نه قبليږي) وَلَا ٱلَّذِينَ او نه د هغو خلكو (توبه قبليږي) يَمُوتُونَ چې مره كيږي وَ په داسې حال كې چې هُمْ هغوی كُفَّارٌ ۚ كافران وي أُوْلَـٰٓئِكَ دغه خلک(چې دي) أَعْتَدْنَا تيار كړئ دی مونږ لَهُمْ دوی ته عَذَابًا عذاب أَلِيمًا دردناک (١٨)

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا (19)

د اسلام څخه مخكې په كافرانو كې رواج وو او د بده مرغه چې اوس هم په اكثره ځايونو كې دا رواج دی چې كونډه د خسرګنی ميراث ګڼل كيږي،كونډه واک او اختيار نلري چې په خپله خوښه د بل چا سره نكاح وكړي ،يا به د خسرګنی په كور كې د ليور و غيره سره نكاح كوي حتی كه يو ماشوم هم وي ورته به صبر كوي،او يا به ټول عمر د مړ ميړه په نوم كونډه ناسته وي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ای هغو خلكو ءَامَنُوا۟ چې ابمان يې راوړئ دی(ای مؤمنانو) لَا يَحِلُّ حلال نه دي لَكُمْ تاسو ته أَن تَرِثُوا۟ چې تاسو

په میراث اخلئ ٱلنِّسَآءَ ښځې كَرْهًاۖ په زور(دا د الله تعالى حكم دی چې:کونډه اختيار لري چې د عدت د تيريدو ځخه وروسته د شريعت مطابيق پخپله خوښه د چا سره چې غواړي،نکاح کولای شي او د مړي وروز يا بل کوم وارث نشي کولای چې د کونډې سره په زوره نکاح وکړي او يا ئې د بل چا سره د نکاح کولو ځخه منع کړي)

وَلَا تَعْضُلُو او تاسو مه تنګوئ هُنَّ هغوی(يعنی ښځې مه تنګوئ) لِتَذْهَبُواْ د دې دپاره چې تاسو واخلئ (د هغوی نه) بِبَعْضِ ځينې مَآ د هغه(مال)ځخه ءَاتَيْتُمُو چې تاسو ورکړئ دی هُنَّ هغوی ته (د مهر دپاره.يعنی د يو ځه مال د اخستلو دپاره ورته بې ځايه بهانې مه لټوئ چې دومره يې تنګي او مجبوره کړئ چې د يو ځه مال په درکولو سره ستاسو ځخه طلاق واخلي نو دا مال تاسو ته حرام دی، إِلَّآ مګر أَن يَأۡتِينَ چې کوي هغوی بِفَٰحِشَةٖ بې حيايي مُّبَيِّنَةٖۚ ښکاره(يعنی که ښکاره بد اخلاقي او بې حيايي کوي،اطاعت نه کوي او د شريعت د حدودو ځخه تجاوز کوي چې هر چاته معلومه وي،نو په دې صورت کې چې تيرئ د ښځو د خوانه وي نو تاسو کولای شئ چې خلعي ته يې مجبورې کړئ يعنی مال ترې واخلئ او طلاق ورکړئ وَعَاشِرُوهُنَّ او ژوند کوئ د هغوی سره (او ګذران کوئ د ښځو سره) بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ په ښه طرقه سره(په نيکه طريقه سره) فَإِن او که چيرته كَرِهۡتُمُو تاسو نفرت کوئ هُنَّ دهغوی نه(نو که ستاسو نه خوښيږي) فَعَسَىٰٓ نو کيدای شي أَن چې تَكۡرَهُواْ تاسو بد ګڼئ شَيۡـًٔا يو شی وَيَجۡعَلَ او وګرځوې(او ايښئ وي) ٱللَّهُ الله تعالى فِيهِ په هغه شی کې خَيۡرًا كَثِيرًا ډېر خير (19) (که په کوم خوی باندې مو بدې شي او کرکه مو ترې کيږي،نو صبر کوئ او چالاکي مه کوئ چې سمدستي طلاق ورکړئ،کيدای شي چې د يو ځه وخت په تيريدو سره تاسو په هغوی کې نور داسې ښه خويونه او مثبت شيان وګورئ چې نفرت مو په

محبت بدل ،او الله تعالی د همدې ښځې څخه نیک صالح اولادونه درکړي)

وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا۟ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ أَتَأْخُذُونَهُۥ بُهْتَـٰنًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ٢٠

وَإِنْ او که چیرته أَرَدتُّمُ تاسو غواړئ ٱسْتِبْدَالَ بدلول زَوْجٍ د یوې ښځې مَّكَانَ په ځای زَوْجٍ د بلې ښځې (که یوه طلاقوئ او بله کوئ) وَءَاتَيْتُمْ او تاسو ورکړئ وي إِحْدَىٰهُنَّ یوې د دوی ته قِنطَارًا ډېر زیات مال(د دې نه معلومیږي چې د زیات مهر هیڅ حد نشته دی) فَلَا تَأْخُذُوا۟ نو تاسو مه اخلئ مِنْهُ د هغه(مال نه چې تاسو ورکړئ دی) شَيْـًٔا ۚ هیڅ شی أَتَأْخُذُونَهُۥ آیا اخلئ تاسو هغه(مال) بُهْتَـٰنًا په تهمت لګولو وَإِثْمًا او ګناه مُّبِينًا ښکاره(یعنی د ښځې څخه د مال(مهر) بیرته اخستل خو په دې دلالت کوي چې دې ښځې بد اخلاقي او بد کاري کړې ده نو آیا دا تاسو ته ښه ښکاري چه په پاکه ښځه د دې دپاره د بد کارۍ او بد اخلاقی تهمت ولګوئ چې مهر ترې بیرته واخلئ چې دا ډېر ظلم او ګناه ده،ځکه چې هم ترې مال اخلئ او هم ئې د نورو خلکو په نظر کې سپکوئ شاید چې د غریبۍ او ستاسو د تهمت په سبب ورسره بل څوک نکاح هم ونه کړي) ٢٠

وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُۥ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَـٰقًا غَلِيظًا٢١

وَكَيْفَ او څنګه تَأْخُذُونَهُۥ تاسو اخلئ هغه(مهر) وَ حال دا چې قَدْ أَفْضَىٰ بیشکه نیزدې شوي یاستئ(بیشکه د شریعت مطابق یوځای شوي یاستئ) بَعْضُكُمْ یو د ستاسو إِلَىٰ بَعْضٍ د بل سره(یعنی ستاسو یو د بل سره شرعي نیزدېکت شوئ دی،او د شرعي نیزدېکت یا یوځای

کیدلو په معاوضه کې د ټول مهر ورکول په میره واجبیږي) وَأَخَذْنَ او هغوی اخستي ده مِنكُم د ستاسو څخه مِّيثَٰقًا وعده غَلِيظًا کلکه(یعنی هغوی ستاسو سره نکاح کړي ده،تاسو پخپله اقرار کړئ دی چې د دومره مهر په مقابل کې مې قبوله کړي ده او په دې باندې شاهدان هم موجود دي) ٢١

وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا٢٢

وَلَا تَنكِحُواْ او تاسو مه نکاح کوئ مَا هغه(ښځې) نَكَحَ چې نکاح کړې وي ءَابَآؤُكُم ستاسو پلرونو مِّنَ ٱلنِّسَآءِ د ښځو(یعنی د میرو میندو یا میرو مورګانو سره نکاح مه کوئ) إِلَّا مګر مَا قَدْ سَلَفَۚ هغه (څه) چې مخکې تیر شوي دي(یعنی د جاهلیت او کفر په وخت کې چې څه شوي دي،هغه خو شوي دي،خو د دې حکم د نازلیدو څخه وروسته به قطعاً د میرو مورګانو سره نکاح نه کوئ) إِنَّهُۥ بیشکه دا(دا میرو سره نکاح کول) كَانَ وه فَٰحِشَةً (ډیره) بې حیایې وَمَقْتًا او کرکجنه وَسَآءَ او بده سَبِيلًا لاره(طریقه) (22)

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَٰتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَٰتُكُمْ وَعَمَّٰتُكُمْ وَخَٰلَٰتُكُمْ وَبَنَاتُ ٱلْأَخِ وَبَنَاتُ ٱلْأُخْتِ وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِىٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِى فِى حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِى دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ٢٣

حُرِّمَتْ حرامې شوي دي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې أُمَّهَٰتُكُمْ ستاسو مورګانې وَبَنَاتُكُمْ او ستاسو لورګانې وَأَخَوَٰتُكُمْ او ستاسو خورګانې وَ او حرامې شوي دې په تاسو باندې) عَمَّٰتُكُمْ عمه ګانې

ستاسو(ترورګاني يا د پلار خورګاني) وَخَـٰلَـٰتُكُمْ او خاله ګاني ستاسو
(ترورګاني يا د مور خورګاني) وَبَنَاتُ ٱلْأَخِ (او حرامې شوي دي په
تاسو باندې) د ورور لورګانې(وريرې) وَبَنَاتُ ٱلْأُخْتِ او د خور لور
ګانې(خورځې) وَأُمَّهَـٰتُكُمُ او(حرامې شوي دي په تاسو باندې) ستاسو
مورګانې ٱلَّـٰتِىٓ هغه(مورګانې) أَرْضَعْنَكُمْ چې هغوی تاسو ته تی
درکړئ وي وَأَخَوَٰتُكُم او ستاسو خورګاني مِّنَ ٱلرَّضَـٰعَةِ د تي
رودلو(رضاعي خورګاني) وَأُمَّهَـٰتُ نِسَآئِكُمْ (او حرامې شوي دي په
تاسو باندې) ستاسو د ښځو مورګانې(خواښې) وَرَبَـٰٓئِبُكُمُ او پرکتيانې(د
ښځې لورګانې چې د بل ميړه نه وي) ٱلَّـٰتِى هغه(پرکتيانې) فِى
حُجُورِكُم چې ستاسو په غيږو کې دي(ستاسو په تربيت کې دي) مِّن
نِّسَآئِكُمُ ستاسو د ښځو نه ٱلَّـٰتِى هغه(ښځې) دَخَلْتُم چې تاسو
نيزدېوالئ(کوروالئ) کړي وي بِهِنَّ د هغوی سره فَإِن او که چيرته
لَّمْ تَكُونُوا۟ تاسو نه وي کړئ دَخَلْتُم بِهِنَّ نيزدېوالئ د هغوی سره
فَلَا جُنَاحَ نو نشته ګناه عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(يعنی که دښځې د بل
مړه نه لورګانې وې او تاسو ورسره نکاح وکړئ نو د دې ښځو لورګانې
چې ستاسو پرکتۍ کيږي (تقريباً په دې د فقهاوو اجماع ده چې) په هر
حال کې که ستاسو په کور کې تربيه شوي وي او که ستاسو دکور ځخه
دباندې په هر صورت کې پرکتيانې په تاسو حرامې دي خو په دې شرط
که چيرته ئې تاسو د مورګانو سره د نکاح نه ورسته نيزدېوالئ کړي
وي،او که چيرته مو نکاح ورسره کړي وي او نيزدېوالئ مو ورسره نه
وي کړئ.نو که چيرته يا طلاق ورکړئ او يا مړې شي نو په دې صورت
کې د هغو د لورګانو يا پرکتيانو سره نکاح کولای شئ. وَحَلَـٰٓئِلُ
او(حرامې شوي دي په تاسو باندې) ښځې أَبْنَآئِكُمُ د ستاسو د
ځامنو(يعني نګورګانې) ٱلَّذِينَ هغه(ځامن) مِنْ أَصْلَـٰبِكُمْ چې د
ستاسو د شاګانو ځخه(پيدا)دي(يعنی ستاسو حقيقي ځامن دي) وَ او(دا

هم حرام شوي په تاسو باندې أَن چې تَجْمَعُواْ تاسو يوځاى كوئ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ دوه خورګاني ( يعنى چې په يو وخت كې دوه خورګاني يوځاى په نكاح كړئ) إِلَّا مګر مَا هغه(څه) قَدْ سَلَفَ ۗ چې پخوا تير شوي دي( خو د دي نه وروسته به داسې قطعاً نه كوئ) إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى كَانَ دى غَفُورًا بخښوونكئ رَّحِيمًا (او)مهربان. (٢٣)

ډاكټر محمد عثمان نظامى